# اعلان

ګرانو او قدرمنو لوستونکو پښتو ډاټ نیټ د دې کتاب سره ډیره خواري کړی ده او په ډیر عاجزانه طور ئې تاسو ته دَ مطالعې په غرض ډالۍ کوي د دې کتاب بې اجازت نقل کول ، چاپ کول یا زمونږ نسبت ترې لرې کول نه صرف دا چې اخلاقي جرم دے بلکې ډیر سخت منع دی

پښتونستان

پښتو ډاټ نیټ

Distribution ,posting or copying is strictly prohibited without written permission of Pukhto.Net

**Pukhto.Net**

# کودری



Presented By
Pukhto.Net

اقبال شاکر

ټول حقونه د مرستيال ليکوال "مل" ملاکنډ
په نوم محفوظ دی۔

د کتاب نوم ــــــــ کـــودری
شاعــــر ــــــــ اقبال شاکرؔ
کمپوزنګ ــــــــ محـمـد رياض ساغرؔ
(بلال کمپوزنګ سنټر بټ خېله
سرپـــانه ــــــــ عبدالرحمان، تحسين الله تحسّين
د چاپ ځائے ــــــــ پرنټ ماسټر بټ خېله
د چاپ کال ــــــــ جون ۲۰۰۳ء
شــمــېره ــــــــ يوولس سوه (۱۱۰۰)
بيـعـــه ــــــــ ۱۰۰ روپۍ

Pukhto.Net

## د موندلو درک

يونيورسټي بک ايجنسي پېښور

د پښتو اکېډمۍ د کتابونو دکان

يونيورسټي آف ملاکنډ چکدره

دفتر مرستيال ليکوال "مل" ملاکنډ
بهادر خان پلازه بټ خېله فون: ۴۱۴۵۳۱

اکـرام جيولرز اسبڼ/ ګل آباد

# تــــړون

د خپلو درې واړو میاندو او پلار په نوم
د چا مینې محبت چې زمونږ د کوره
د لــفــظ "مېرنۍ" تصـــور ورک کړے دے.

Pukhto.Net

زۀ مصلحت او د پښتو خبره پېژنمه
زۀ خپل ګرېوان د چا د زلفو په تار نۀ ګنډمه

Pukhto.Net

# زما په خيال

اقبال شاکرؔ د ژوند يوه پوره برخه د ليک لوست او ادبي هلو ځلو دپاره په کار راوستې ده. خپله علاقه وي او که د علاقې نه بهر تنقيدي اجلاسونه وي که مشاعرې، کليزې دستورې وي که مخ کتنې يا سيمينارونه شاکرؔ ورله په ډېره مينه ځان هم رسوي او نورو ملګرو ته هم ددغې دستورو په اهميت خبره کوي او کوشش کوي چې د ځان سره ئې واخلي. شاکرؔ په دې حقله ډېر متحرک دے. کله کله خوئې ځينې ملګري اوهم رټي. ولې شاکر چې يو ځلې د يو کار تابيا اوکړي نو ګرانه ده چې څوک ئې بيا رامنې کړي. هغه ورځ د "کومبړ" نه د مشاعرې يوه بلنه راغلې وه. شاکرؔ ګوهرؔ صيب ته واوروله او ورته ئې اووې چې "دې مشاعرې له خو به تلل غواړي" ګوهرؔ صيب نۀ يوه کړه او نۀ بله وې "يره زما کتاب دې په ميدان کښې هډو خرڅ نۀ شي".

شاکرؔ صيب په زړۀ اوخوړه، په شا ئې کتلي نۀ دي خو نېغ لاړ او د ميدان ګاړي ته اوخت.

مطلب مې دا دے چې اقبال شاکرؔ د شعر و ادب په معامله کښې مخلص دے او په ډېر اخلاص سره د خپلې برخې منډه وهي. دغه وجه ده چې نن دے د يوې ښکلې او تللې شعري مجموعې سختن شو. زۀ په خپل ځاني ددۀ د فن نه علاوه ددۀ نظريات ډېر خوښوم. رومانيت، فطرت پسندي او انسانيت دوستي ددۀ د ساهو فطرت عکاسي کوي.



Pukhto.Net

اودا ددهٔ د کلام خاصه ده. دا داسې جذبې دی چې د شاکرؔ د فن دنيا به پرې تړول عمری ژوندی،او اباده وی. دا نظريات نهٔ زړېږی او نهٔ پناه کېږی. زمونږ په وړاندې داسې ګڼ مثالونه موجود دی چا چې د مختلفو ډلېزو نظرياتو دپاره خپل فن او هنر استعمال کړے دے. هغهٔ د وخت تېرېدو سره زاړهٔ او فرسودهٔ شو. او نن د تاريخ د يوې قيصې نه علاوه هېڅ حېثيت نهٔ لری. ولې کومو ليکوالو شاعرانو اديبانو چې ددغه افاقی نظرياتو درس ورکړے دے، هغهٔ کهٔ د هرې ژبې او قام سره تعلق لری، د قامونو په زړونو راج کوی او خلق ئې نن هم په مثالونو کښې يادوی.

اقبال شاکرؔ په ډېره نرمه او خوږه ژبه او په ډېره روانه او اسانه لهجه کښې د خپلو احساساتو او داخلی وارداتونو اظهار کړے دے. د عالمانه تکلفاتو او شعری تجرباتو نه ئې ځان ساتلے دے. سوچه روزمره او بامحاوره ژبه ددهٔ د کلام د ښائست په سر سنه کښې لوئے لاس لری. شعر ئې ددغې سادګۍ او سوچه والی په وجه دومره زوردارہ دے چې په اول ځل اورېدو يا لوستو سره د سړی په زړهٔ او دماغو خپل اثر او نقش پرېږدی. ددهٔ د هنر دا کمال بايد چې ددهٔ خپل هم وی ولې هغه تنقيدی محفلونه هم د يادولو وړ دی د چا په وجه چې ددهٔ کلام او تخيل د ارتقاء په لوری ګامونه اخلی. د مثال په توګه د "سوچه ليکوالو مرکه سوات" مياشتينۍ تنقيدی غونډې او په تېره تېره

د مرستیال لیکوال " مل " ملاکنډ پنځلس ورځنی تنقیدی اجلاسونه ـ

دا د خدائے پاک ډېره مهربانی ده چې پښتو ادب مخ په وړاندې روان دے او کال په کال نوې نوې فن پارې د پښتو جولۍ ډکوی چې اکثر پکښې د زلمو لیکوالو وی او زیاته برخه د نظم د صنف سره تعلق لری. لکه څنګه چې پښتانه په ختِه شاعر مزاجه دی ـ له دې کبله دوئ شعر طرف ته زیات رجحان لری ـ خو د بده مرغه اکثر لیکوال حضرات د معیار نهٔ بلکې د مقدار خیال ساتی. په دې وجه ئې کلام د معیار نه پرېوتے ښکاری ـ هغه وخت سړے ډېر افسوس اوکړی چې څنې تجربه کار او ماهره شاعران هم د قافئې د علم نه نا واقفه ښکاری او ډېره په بې دردۍ سره ئې د خپل کلام مشاده ورانه کړې وی.

اقبال شاکرؔ ځلمے هم دے او دا کتاب " کودری " ئې اولنے کوشش هم دے ـ خو زهٔ ډېر په خوشحالۍ او وياړ سره وايم چې ددهٔ کلام کم از کم ددغه قسم کمزورو او غلطیانو نه پاک دے. او سړے وئیلے شی چې د شاکرؔ د کلام معیار په هر لحاظ سره لوړ دے او پښتوئې په تول پوره ده.

د نورو ژبو شاعران په خصوصی توګه د اردو شاعران خو د ردیف قافئې ـــ بـــخی پرواه نهٔ ساتی ، او ځان ته ئې ډېره اسانی پیدا کړې ده ـ مونږ د خپلو غلطو پټولو دپاره اکثر د اردو اشعار په مثال کښې راولو او ځان له پرې زړهٔ ښهٔ کوُو. خو کهٔ مونــــږ سوچ

اوکړو نو پښتو "پښتو" ده ـ نـۀ خـو اردو زمـونږ معیار دے او نـۀ حدف۔ لکه څنګه چې پښتانۀ په کړۀ وړۀ، خوئ بوئ او دود دستورکښې یو ځـانګـړے حېثیت لري، باید چې د دوئ د لیک معیار دې هم انفرادي حېثیت ولري.

شاعران ادیبان منم چې د قام سترګې وي ـ خو ددې نه علاوه دوئ د ژبې امـانت ګر هم وي ـ ددوئ په وجه ژبه ژوندۍ پاتې کېږي ـ چې ژبه ژوندۍ وي نو قام به هم ورسره ارو مرو ژوندے وي ـ

اقبـال شاکرؔ هم د خپلې ژبې او خپل کلتور ساتندويه دے۔ او غـواړي چې ددۀ قام او ژبه دې په هېڅ حالت هم د نورو نه کم وزنه نۀ وي۔ دے خپل قام ژوندے او مخ په وړاندې لیدل غواړي ـ خـود روایاتو لـمن هم پرېښودل نۀ غواړي ـ شاکرؔ چې څومره په خپل قام مئین دے دومره په خپل دود دستور سم مړ دے۔ شاکرؔ د پښتون اولس سره بې کـچـه مینه لري او د پښتو دپاره یو دردمند زړۀ لري۔ هره توده سړه ېېره پـه شـدت سره محسوسوي، او دغه محسوسات ددۀ د اشعارو په آئینه کښې په واضح طور لیدے کېږي۔ بلکې زۀ به دا اووایم چې شـاکرؔ پخپله د خپل کلام یو ژوندے تصویر دے ـ د منافقت په خوا هم نۀ دے تېرشوے ـ څۀ چې ئې په زړۀ وي هم هغۀ ئې په خُله وي ، او څۀ چې ئې په خُله وي هغۀ ئې د عمل حصه وي.



Pukhto.Net

زمـا غـونـدې بـې سـنـده سړے هېڅ جواز نۀ لری چې په خپلو
ګډو وډو سپينې پاڼې تورې کړی۔ خو زۀ پوهېږم چې اقبال شاکرؔ ما
لـکـه د اباسيّن يوسفـــزی په څۀ نا څۀ حواله په خپـل کـتـاب کښې
ژونـدے ساتل غواړی ۔ او د خپل محبت پېرزوېنه کوی ۔

په ډېر درناوی

بخت روان عمرخېل
مرستيال ليکوال"مل" ملاکنډ بټخېله
۲۷ مئی ۲۰۰۳ء

Pukhto.Net

## وار د ملاکنډ دے

ـ حقه وېنا يو خلې بيا سر نذرانه کښې غواړي
منصوره راشه څوک په دار د ورختو نيشته

د نن نه لس دولس کاله وړاندې چې ما د شاکرؔ د خُلې نه دا برنے شعر واورېدۀ نو څۀ وخت له مې ذهن بنېپه نيولے شۀ او تر ننه زۀ د شاکرؔ شاعرۍ ته په غور غوږ ږدم او په زړۀ دننه ئې شعرونه ټنګوؤم او سنجوؤم.

مونږ دواړه يوبل د هلکوالی راسې پېژنو. زمونږ د پېژند ګلۍ وسيله يو "مېلو" دے. خو په دې مېنځ کښې زۀ په پښور پرېوتم او دے په کلی پاتې شۀ. که هر څو د يوبل سره ناسته پاسته کمه شوه خو د "پام" ( پښتانۀ ادبي ملګرى) او "مل" (مرستيال ليکوال) سره د نزدېکت، مشاعرو، علمي ادبي او تنقيدي مئيلسونو په برکت ګڼې شمېر موقعې په لاس راغلې. ما شاکرؔ واورېدۀ او د هغۀ د شعري مزل ګړ پړاوونه مې وليدل.

ـ ماته دې غم کړو راله غاړې لاړې
جانانه تۀ چې هغــه لاړې لاړې

ستا دجنت د حورو ذکر څۀ وو
چې د ملا د خُلې نه لاړې لاړې

دوه درې کاله وړاندې چې ما د شاکرؔ د اُستکارۍ نه يک دغه شعرونه واورېدل نو بې اختياره په دې وېنا مجبور شوم چې شاکرؔ

اوس سپېځلے او ښاغلے شاعر شو. زۀ کۀ وایم او کۀ نۀ وایم. ددې شعرونو دننه د لغاتو او شاعرانه صنعتونو جادوګرۍ، د تخیّل ژورتیا او د بندش لاجوابه هنر په چغو چغو وائی چې دا د پوخ شاعر تخلیق دے. د لفظونو په تول او د معنو په تل رسېدلے شاعر دے. په دغه شعرونو کښې څۀ نوې خبره نوے مضمون نۀ ښکاری خو ددې باوجود زۀ شاکرؔ ته ډېره ډاډ ګېرنه ورکوؤم او هغه په دې ډاډ چې خبرې خو هر څوک کوی. شعر خو هر څوک لیکی خو د اردو ددې شعر په خیال۔

ے صرف اندازِ بیاں بات بدل دیتا ہے
ورنہ دنیا میں کوئی بات نئی بات نہیں

قُل هو هغه قُل هو ده خو خُله د مذوب نۀ ده. شعر لیکل دننه د جذباتو یو طوفان غواړی او ددغه طوفان آثار د برجستګۍ او ابلاغ زور د شاکرؔ سینه لری دغه خبره زه د ځانه نۀ کوؤم. ددۀ د شاعرۍ په آئینه کښې ئې وینم.

زۀ چې کله د پښتو ادب اُستاذ نۀ وومه (زۀ ځان اوس هم ښېخی طالب علم ګنړم) نو مابه هغه وخت د شعرونو نه ډېر خوندونه اخستل. بیاچې کله د شعرونو د تشریح کولو کار را پغاړه شو نو اوس مجبور یم چې د شعر کولمې راوباسم. کۀ هرڅو د بعضې شعرخوند د تشریح کولو سره کمېږی هم. پخوا به زما داسې شعرونه هم خوښېدل چې هغه به تش د ښو لفظونو بوجی وې او د معنو درک به پکښې نۀ

لګېدو۔ بې ربطه او بې دلیله به هم وو۔ خو اوس چې ترڅو د شعر تل ته نهٔ یم رسېدلے نو زړهٔ مې پرې اوبه نهٔ څښي۔ ذوق جمال مې ترې پاتې کېږي ځکه چې مخامخ شاګردان ناست وي هغوئ په هر حال کښې ځان پوهول غواړي۔ کهٔ هر څو د تشریح سره د بعضې شعرونو رنګ وتښتي خو زهٔ څهٔ وکړم چې دغه غم راپېښ دے۔ دغه فرض ادا کول هم غواړي۔ کله کله ډېر "لوئے لوئے" شاعران هم په دغه غلبېل کښې غلهٔ شي او تشریح کوونکے چې شاعروي نو پخپله هم د خود تنقیدي ښکار شي۔ په دې تلې پېرونو کښې خپل تُل جاري ساتل وي۔

زهٔ چې د شاکرؔ شاعري په دغه ګز وهم نو ورومبې خبره دا مخې له راځي چې ددهٔ ژبه عامیانه او خیالونه زوړ دي۔ خپل لوستونکے د خپل خیال په ورشوګانو هواګیر ګرځوي او کهٔ څوک وائي چې هغهٔ د شاکرؔ په شاعري نهٔ پوهېږي نو هغهٔ دې خپله پښتو سمه کړي۔ یا دې د خپل شعري ذوق روزنه وکړي۔ ځکه چې ددهٔ ډېره شاعري د سهل ممتنع نمونه ده۔ او دغه د شاعرۍ د ټولونه لویه خوبي ده۔ شاعري د اولس دپاره کېږي او چې د اولس د پوهې نه لرې وي نو بیا د هغې فائده څهٔ شوه۔ زمونږ سره دوه غټ مثالونه دي۔ رحمان باباؒ چې د تصــــوف ثقیلو مسئلو او ژورو فلسفو له ئې عامه لهجه ورکړې ده۔ او د عام وګړي د پوهې تمبې ئې ببرته کړې دي۔ شعرئې بې کچه د روزمـــرې او محــاورې په کالو بنځلے (بوټلے) دے۔ او بل معیار د کاظم خان شیدؔا بابا دے۔ چا ته چې مونږ د شاعرانو شاعر وئیلے شو۔

په شعر پوهېدونکو خلقو باندې سر ګرځوي. د معنو سمندرونه زېږوي خو د اولس نه لرې ډېر لرې.

د ابلاغ په ډګر شاکرؔ د رحمان بابا په مسلکې لاره مزل کوي. د شاعرۍ د منصب نه خبر دے. د غزل نزاکتو نه هم پېژني د تغزل په باریکو لارو د مزل سره اشنا دے. د خپل پښتون جمالیاتي ذوق او حس هم ځائے په ځائے اظهار کوي. د خپل قام د نفسیاتو او حالاتو نه هم خاطر جمع نهٔ دے. لکه چې وائي.

ے چې پښتانهٔ زلمي پرې ننګ نهٔ کوي
پښتنې دغسې سرتورې ښهٔ دي

ے تهٔ په خپل زور پسې تورپک ګرځوه
د قام دښمن درنه تورماره ګرځي

ے زمونږ د خاورې ماشومان وږي دي
د مور په غېږه کښې نیازبین پرقېږي

ے غریبي دومره سرے نهٔ سپکوي
خو بې حسي ترېنه جامې وباسي

ے دا زمونږه د سر سپوري
د خپل سپوري نه ویرېږي

څوک چې د فکر ددې معیار شعر وئیلے شي هغهٔ زه په عامو شاعرانو کښې نهٔ حسابوُم. دغه درد او دغه فکر د مزاحمتي شاعرۍ کړے کړ دے. کومې چې شلمه صدۍ خپله کړې ده. هم په دغه متابعت

کښې د شاکــرؔ د هُنر تېغې سر وهلے دے. خو ددې هر څهٔ باوجود هغهٔ ځان د خپـل مسلك او خپلې عقيدې نه چرې نهٔ شي بېلولے. هغه خلق هم ګـز ګـمبت کـوي. چاچې يو خوا د خوار غريب او پرېوتي وګړي غـمـونـه ژړل او دغـه سـاهـو فـکـر لـه ئې وده ورکوله خو ورسره ئې په خوږه خوږه کښې نورې ږندې لړلې.

ے هغه چې مونږ د تيارو لارو مشالونه ګڼـل
ددې مايوسه سترې قام مايوسي لا سېوا کړه

ے دوئ خو ځتک او لور په لاس کښې هم اخستی نهٔ دی
شاکرهٔ هسې د ځـتـک او لـور خـبـرې کـوي

په مجموعي توګه شاکـرؔ د حسن او عشق په کار ډېر بوخت دے وائي.

ے ملګرو ما ورته تغمې زړګے ښکارهٔ کـړو
هغه د لښتې په شان شاتـــه د خندا نه لاړه

ے په کومه ورځ چې په آئين کښې ځان ته اوګورمه
په هغه ورځ دې په ايمان سترګو ته نهٔ شم کـتـے

ے خاطر دې پرې درونـد نهٔ شي کهٔ د"راشه" په ځائے"را" شو
ستا قد ــتــه چې مې وکاته خـپـل ور راته راياد شو

ے ستا د ښائست زما د زړهٔ د زور خبرې کوي
دا خلق ځــنــګه د اوبو او اور خبرې کوي

Pukhto.Net

دغــه میـنـه چې د کـائـنـات پـه وجود کښې د راتللو سوب گرځېدلے دے. او دغه حسن چې اللّٰه پاک د کائنات په هره ذره کښې په خپـل مـقـدار پـه خپـل تـنـاسـب وراچولے دے.چرته لږ، چرته ډېـر او چرتـه ډېر زیات . او بیا ئې ددغه ښائست د مشاهدې او تجربې دپاره سترگـور خـلـق زېږولي دي او ددغــه مینې د ناپ کولو دپـاره ئې د زړونـو، ذهـنونو عقلونو او روحونو پېمانې ټاکلې دی. د مینې تول او د حسـن تناسب ترننه چا کچ نۀ کړے شول. هر څوک د خپل مقام نه، د خپلې زاویې نـه او د خپل وجدان نه په دغه ناپ تول کښې لگیا دے. خو نۀ ترننه چا د حسن تل معلوم کړو او نۀ چا د عشق بام فتح کړے شـو. هر څوک خپل تېل باتی سبزی او ځی. د کوم قلمکار د کوم فنکار تـجـربې او تجزیې چې نوې وی ، ژورې وی اثرناکې وی خلق هم د چا سـره لـږ وخت د چا سره ډېـر وخت او د چا سره تل تر تله متفق شي. شـاکـرؔ هـم سـتـرگـور دے. نـظـر لـری وزر لری. اوس دا گورو چې دے څومره الوتے شي او څو پورې لیدے شي. وائي -

ے زه پېدا شوے یم د عشق په مذهب
زما د عقل پــه ما لاس نــۀ رسی

ے د ډېرو مېخوارانو زاهدانو سره نــاست یم
د حُسن و عشق خبرې ئې اکثر زړۀ ته پرېوځی

ے واعظه تۀ د مینې محبت درس شورو کړه
د مینې محبت خبرې زر زړۀ ته پرېوځی

د مینې دې بې پایاوه جذبو د شاکرؔ شعور ته دومره سپېڅلتیا بخښلې ده چې هغه د مینې او امن نه علاوه د بل څۀ تصور هم نۀ شي کولے۔ مینه ئې په حواسو جخته سوره ده۔ ددې جذبات ټول د محبت په احاطه کښې رابند دی۔ وائي۔

ے بغېر د محبت نه کۀ مې بل ټکے ایزده وی
په ما دې راپسې شی قرآنونه پاڼې پاڼې

ے دا خلق څنګه بنیادم اؤوژنی
خدائیګو کۀ زۀ مېږے وژلے شمه

ددې ټولو شعرونو نه علاوه ګڼ شمېر نور شعرونه لوستونکے څانته راکاږی او د شاعر د فکرونو باغ ته ئې ورګډوی۔ د غزل د روایت سره سم شاعر هغه ټول توکی خپل کړی دی کوم چې د ښۀ غزل لیکلو دپاره بې شانه ضروری دی۔

د ملاکنډ په سیمه د غزل د څښې سترګې دپاره د فطرت حُسن هم شته او د جذبو حُسن هم د ژبې خواږۀ هم شته او د روحانی قدرونو زور هم۔ ګورو چې وخت د ملاکنډ جولۍ ته څومره تابانه ملغلرې ورسپاری۔ د نړۍ په تېزۍ بدلېدونکی حالات او د پښتون قامی بې حسی خدائے خبر چې کوم لور ته ځی۔ خو داسې ښکاری چې۔

ے د مردان مثال د دواړو مینځ کښې ګنډ دے
خېبر وار تېر کړو اوس وار د ملاکنډ دے (اباسین یوسفزے)

څکه چې کلي بازارونه شول او بازارونه ښارونه شول ۔ غزل به چرته ځانله د فطرت سادگي لټوي کنه۔ او د ملاکنډ سیمه د غزل د نورو غوښتنو سره سره گڼ شمېر خواږهٔ شاعران هم لري. زما د ملاکنډ مردم خېزه خاوُره بابائے ملاکنډ عبدالحکیم قادري چشتي زېږوي۔ رحمت شاه سائلؔ، پروفېسر محمد نواز طائرؔ پروفېسر صاحب شاه صابرؔ، عبدالرحیم روغانےؔ، لائق زاده لائقؔ پروفېسر محمد اسلام ارمانیؔ او حنیف قیسؔ غوندې ادبي څڼې زېږوي او د دوئ نه علاوه بې شمېره ځلېدلي ناځلېدلي ادیبان او شاعران د رواني صدۍ په ادبي ډگر لري. نو د دوئ په اتباع کښې د ډاکټر دیدار یوسفزیؔ او اقبال شاکرؔ غوندې ځلمي زېږېدل د فطرت غوښتنه ده د وخت ضرورت دے.

اللّه دې پښتنو له عقل ورکړي، علم ورکړي او د خپلو منورینو نه د فېض اوچتولو او د هغوئ د ستائینې او قدر ونې توفیق ورکړي. چې د شاکرؔ داگیله هم ختمه شي.

ے په هر یو گام راباندې هر یو سرې پښې کېښودې
خدایه سرے دې کړم خو دا د سریتوب ورځې دي

**منـــنــــه**

**اباسینؔ یوسفزے**

پښتو څانگه اسلامیه کالج پېښور یونیورسټي

نېټه: ۹ مئي ۲۰۰۳ء

# بمبلې

شعر لیکل...... او بیا ښهٔ شعر لیکل...... یقیناً چې ګران دی. ولې په شعر پوهېدل ...... او بیا پرې ښهٔ پوهېدل ....... د هغې نه ګران او کړان دی...... ځکه چې شعري شعور او ادراک یو داسې وجداني څیز دے - چې هغه نه یوازې ددې فن په باریکیو د پوهېدنې متقاضي دے - بلکه د شعر د خیال د مطالبو ، معنو او اظهار سره د څهٔ حده پورې د شاعر د نفسیاتو نه د اګاهۍ غوښتنې هم کوی. او هم دغه د اګاهۍ غوښتنې دی - چې په اصل کښې د شعر حُسن او جوهر رابرڅېره کوی.

شاکرؔ.... شعرلیکی....او د ښهٔ شعر لیکلو هڅې هم کوی. زهٔ د یوې مودې راسې د هغهٔ دغه هڅې لولم .....اورم.... او پرې د پوهېدلو مښود هم کوؤم. شاکرؔ د ځوانو جذبو.... زلمے شاعر دے. په بنیادی توګه یو روماني غزل ګو دے. چې فکر او احساس ئې د جانانه لطافتونو نه چاپېره چورلی. نوې نوې تجربې کوی او د خپلو جذباتو د نامعلومو ژورو په لار د انکشاف ذات د عمل نه تېرېږی. په دغه ترڅ کښې هغهٔ په ځان د پردې اچولو قائل نهٔ دے. بلکې په واز کومې نعرې وهی چې :-

بغېر د محبت نه کۀ مې بل تکے ایزده وی
په ما دې راپسې شی قرآنونه پانې پانې

دا خبره په خپل ځائے سمه ده. چې شاکرؔ د "محبت" د تکی

نه سېوائي بل تکے نۀ دے زده کړے، ولې د "محبت" ددې ټکي په ځاندره کښې ځانله د زده کړې نور لوئے لوئے کهکشانونه خوندي دي. چې د هغۀ باطن ئې په لا شعوري تجرباتو ځلولے او رڼولے دے. دغه تجربات کۀ د ذوقِ جمال نه عبارت دي. او کۀ د درد اؤ کرب د احساس نه رازېنزېدلي دي. خو محسوسات او مشاهدات ئې د هغۀ د وجدان حصه ګرځېدلې ده. او هغۀ ئې د بلا محبتونو په اسرارو پوهه کړے دے. چرته د تهذيبي قدرونو په شکل ..... چرته د انساني رشتو په بڼه..... چرته د قامي خواخوږۍ په رنګ ..... چرته د پښتني روایاتو په نوم..... او چرته د ګل ګل جانان د نازولي تصور په توګه ..... دغه محبتونه رابرڅېره شوي دي ..... ځانونه ئې د هغۀ د تخیّل په هندارو کښې هم د هغۀ د فنکارۍ په مشاطه سنبال کړي او سینګار کړي دي. ولې په دې ټولو محبتونو کښې د جانان محبت د هغۀ په روح او ذهن داسې سور شوے اؤ داسې خور شوے دے چې تنده غرے شاکرؔ ئې ددغه نورو بلا محبتونو په غورځنګي سیندونو ګرځولے خو دے..... ولې واپس ئې تږے راویستے دے..... او دا شان داګاهي باوجود هغۀ په نکر شوؤ اړخونو هغه شان خپل محسوسات قلم ته نۀ دي سپارلي. څنګه چې د هغۀ نه توقع کېدے شوه ..... هم په دا سوب شاکرؔ له چې چرته اګاهي پکار وه نو هلته دے بې خبره دے. اؤ چې چرته هغۀ له بې خبري ضروري وه ـ نو هلته شاکرؔ اګاه په نظر راځي. زما د خبرې



Pukhto.Net

مطلب هر گز دا نهٔ دے ـ او نهٔ زهٔ داسې فکر کوؤم. چې ګنې هغهٔ د خپل داخلي او قلبي وارداتو په اظهار کښې د نرګسيت ترحـده ولې رسېدلے دے. او که هغهٔ داسې کړي هم وي. نو د ادب په مذهب دا څهٔ داسې ګناه خو نهٔ ده. چې پـه سـر زد کېدو ئې په بنده پسې د توبې تمبې پورې کېږي. ولې دومره ضرور ده ـ چې شاعري په اصل کښې عصري روح ژونـدے ساتي. او تـرڅو چې د زمانې روح په شعر کښې نهٔ وي جوت شوے نو زما په نزد تر هغې شاعري په زړه شخوند وهل دي. ځکه چې د شاعر اصل کار د معاشرې نه د واقعاتو او پېښو ردِعمل او تاثرات اخستل دي. دغه ردِ عمل اؤ تاثرات وي. چې شاعر ئې تجربه کوي. نتائج ترې اخذ کوي. او معاشرې ته ئې غبر ګوي. معاشره دغه نتائج اخلي اؤ قبلوي ئې ـ په دې چې په دغه عمل کښې معاشره د خپلو ګونګو احساساتو اؤ خاموشه جذباتو غږونه اوري. هم دا هغهٔ عمل دے، د څهٔ په ذريعه چې يو تخليق د معاشرې د روح اظهار ګرځي. او هم دا اظهار د يو تخليق کار نه د معاشرې د زړهٔ اواز جوړوي ـ بيا دغه اواز نـهٔ يـوازې دغـه وخـت اورېدے شي ـ بلکې کرنګا ئې په راتلونکو وختونو کښې هم اورېدے شي.

شاکرؔ کښې د سماجي شعور دغه سوچ او اپروچ ترڅهٔ حده شتهٔ. کوم چې زما په وجدان دېر ښهٔ لګي او دا هغهٔ وخت په نظر راځي کله چې د هغهٔ جذبات اؤ سماج د يوبل سره په پرځـــولو وي ـ دواړه مشت و ګرېوان وي ـ هم دغلته د تصادم او کشمکش يو خوندور

احساس راپيداکيږي. چې د هغهٔ فکر ته د ټولنيز درد او سماجي شعور خـواږهٔ بـخښي . ولې دغسي شاکرؔ د هغهٔ په کلام کښې ډېر کم په نظر راځي. اوداږهٔ د شاکرؔ د فکر الميه ګڼم. چې هغهٔ ئ د معاشرتي غوښتنو او تهذيبي اقـدارو د تصادم په دې لوئے درز غوبل کښې تر ډېره حده د حسن وجمال د کيفياتو او عشقيه وارداتو د بيان پورې محدود کړے دے.

پـه هر طور د جديد غزال په حواله شاکرؔ زما د کهول د شمار پـه هغـهٔ څـو ګل فکره شاعرانو کښې يو دے. د چا غزل چې د تخيل او تـغزل سـره سره د فني لوازماتو له رويه زما دپاره ارزښت هم لري او معنی هم. اصل کښې د شاکرؔ غزل د داخلي کيفياتو د ارتکاز يو داسې بې باکانه اظهار دے. چې نه يوازې د هغهٔ د ماضي د ترخو يا دونو ترک لـري. بلکې د يو ساهو مستقبل رجائيت ترې هم څاڅي. او دا صفت د شاکرؔ د شعرونو نه د سپرلي د سپوږمۍ هغهٔ سپيځلې وړانګې رغوی . چې د ژوبـلـو روحونو.... ستړی احساسونو.... او.... خوګو زړونو د دمې او آرام غېږې ګرځي.

د نامتو ليکوال " ګوئيتے" په قول " ښهٔ خيالات.... د بې باکه مـاشومانو په رنګ ناڅاپه مخې ته رادانګي.... اودرېږي.... . او په چغو چغو وائي چې موږ دلته يو..... موږ دلته يو....." ښېخې هم دغه رنګ د شـاکرؔ ډېر خيـالات د هـغـهٔ د شـاعرانه شعور، بېدار مغزي، ذهني اسـودګۍ او د فـن د لـطافتونو او نزاکتونو نه د اګاهۍ په وجه دومره علويت او رفعت لري. چې د ګوئيتے په قول د غزل په مېنځ کښې رادانګي

ځان ښکاره کوي. او لوستونکے یا اورېدونکے ارو مرو په داد ورکولو مجبوروي. بلکې په ځنې شعرونو کښې ئې داسې خیالات هم رانغښتي دي . چې هغهٔ لــکــه د خود کشۍ د مرګ داسې دردېلے احساس لري چې د نـهٔ غـوښـتـو بـاوجـود بیا بیا بنده راژوندے کوي. او ددغـه احسـاس د شـواخـون زهـر پـرې څښي. زهٔ دا مـنم چې لوسـتونکے یا اورېدونکے پـرې د یـو ذهني تړسمار د اذیت نه تېرېږي. ولې هغـهٔ بې وسه دے چې بیابیا دغه خیالات د سره کړي. او لکه د ورغلي پرهر د پاترو په ګرولو ترې خوند او مزه واخلي . لکه د شاکرؔ دا شعرونه :-

ے خلقو سرونه په دې کښېښوده چې سر پرې کېږدي
د یار د سپین مړوند بنګړي د څهٔ نه څهٔ خبـر دي

ے هغه زما د خوګ زړګي په تکور ښهٔ پوهېږي
هغه په سترګو کښې زما دپاره اور ګرځوي

ے د محبت د کلي خــلق څــــهٔ اودهٔ اودهٔ دے
لکه چې درد له د پرهر په زړهٔ کښې خوب ورشي

ے ګلونه مهٔ شوکوه سترې به شي
دا لېونی د څهٔ دپاره ګــــرځي

ے د ځینو په چوپړو کښې یوه پاڼه خشاک نهٔ وي
د ځینو د بـنـګلو وي د بـوالـــونه پاڼې پاڼې



Pukhto.Net

ــ ډېرې نازکې د رېدې د ګل نه هم نازکې
د يو غريب سړي د لور د پېغلتوب ورځې دي

ــ د لوپټې پيڅکے راخور کړه په ما
چې په قلاره رانه سا اوخېژي

ــ دا څوک ده د رنګونو په باران کښې لونده شوې
که نا سته ده په پانړو د ګلونو لولکې

ــ زمونږ د کلي کار به څنګه ساز شي
د کار سړي پکښې بې کاره ګرځي

ــ که چا وژلے يم د خدائے په نوم بخښلے دے ما
شاکره نور د انتقام په معنیٰ نهٔ پوهېږم

ــ محبت خو داسې کار دے
چې سړے پکښې د کار شي

ــ د لېونی ګوتې تناکې نهٔ شي
شاکره ګل ئې د ډنډر مات کړو

ــ ما اورېدهٔ چې يو سړی بل ته په غوږ کښې اووې
دې لېونی په محبت باندې ايمان راوړے

ــ زما قسمت ته زمانه پسخېږي
ما د ښائست د رشې سر مات کړو



Pukhto.Net

شاکرؔ د لفظونو په نبضونو پوئے دے. په حرمت ئې رسېدلے دے. څکه خو د هغهٔ د لفظونو په استعمال کښې وقار دے. داسې وقار چې د انداز نه ئې د خوږ والي او نکهار معصومیت څاڅي. په لهجه کښې ئې د ضبط او توازن احساس غزونې کوی. چې د هغهٔ فکر او ادراک په یوه نهٔ شلېدونکې رشته کښې تړی.

رښتیا خبره خو دا ده چې څنګه یو بت تراش له د ښې مجسمې په جوړولو کښې د چېنۍ او څټک د چلولو په استعمال قابو ضروری ده. هم دغه رنګ یو شاعر له د الفاظو په استعمال او بیا په مناسب استعمال پوهېدل بې کچه ضروری دی. څهٔ ته چې په شعری اصطلاح کښې د تلازماتو منطق وئیلے شی..... شاکرؔ لفظ شناس دے. خو کله کله هغهٔ له د لفظونو نبضونو تېر هم ورکړې دے. لکه څنګه چې څنې وخت یو پوهه نبض شناس تېر وتنه خوری هم دغه رنګ شاکرؔ کله کله د تېر وتنې ښکار شوے دے.

لکه څنګه چې ما وړاندې عرض اوکړو. چې د شعری منطق نه اګاهی د یو شاعر دپاره بې کچه ضروری ده. په دې چې شاعر هم ددې په ذریعه د لفظونو تر مېنځه رشتې او اړیکې پېژنی. هغهٔ ددې اګاهۍ نه بغېر وړاندې نشي تلے. هم دا وجه ده چې لفظی رعایتونه همېشه د شاعرۍ یوه لازمی برخه ګرځېدلې ده. د څهٔ په سوب چې یو شاعر پخپل شعر کښې د ربط او معنې پیدا کولو جوګه ګرځي.

د شاکرؔ په ځینو غزلو د فکری تسلسل ژورخاپونه په نظر راځي



Pukhto.Net

هغهٔ کله کله په یو غزل کښې د یو خیال د وضاحت دپاره پرله پسې شعرونه راوړی ۔ او وړومبی خیال له په مختلفو لارو ، اندازونو او طریقو راتاوېږی۔ اردو شاعرۍ کښې دفکری تسلسل دی انداز ته شگفته دمیرتقی میرؔ په منډ دوام بخښلے وو۔ او حسرت موهانیؔ دغه تسلسل د عروج بام ته اورسوو۔ جدید اردو غزل کښې هم د فکری تسلسل دغه تجربې لا اوس هم جاري دي۔ پښتو کښې د مسلسل غزل وئیلو رواج لا دومره زیات نشته ۔ په شاکرؔ دا فنی اثر او ځنې نور تخیلی اغېزې راته د اردو شاعرۍ د لوستلو یا اورېدلو سبورے لیدے شي۔ او هغه داسې چې شاکرؔ د یو لچکدار تخلیقی طبیعت څښتن دے۔ دغه شان لیکوال چې د قبولیت او اثر اخستو صفت لری۔ د ډېرو سپېڅلو او اعلی خوبو خاوندان گڼلے شي۔ هغوئ د روایت نه هم هغه رنگ اثر قبلوی۔ څنگه چې نور لیکوال د خپلو تجربونه رنگ او اثر اخلی۔ د شاکرؔ په شخصیت هم د اغېزې د بوقلمونۍ او د استفادې د طمطراق جوت رنگونه خوارهٔ دي۔

دلته دا خبره د یادونې وړ گڼم ۔ چې د شاکرؔ پـه شعر کښې شگفتگی د هغهٔ د لهجې پوستوالی او د ژبې خوږوالی پېدا کړې ده۔ هغه کهٔ د ژوند تضادات دي او کهٔ د ذات یا کائنات انکشافات دي۔ ولې د بیان دپاره چې شاکرؔ کومه ژبه پکار کړې ده ۔ هغه مردانه ده ۔ او پکار هم ده۔ چې مردانه وي ۔ ولې کله کله دهغهٔ په ژبه د نسوانیت چپې هم راغلې دي چې د شاکرؔ نه ئې خپله ژبه تروړلې ده ۔ او د نر

Pukhto.Net

اقبـال شـاکرؔ په خُله کښې نسواني ژبه ږقېدلې ده ـ د مثال په ډول دا څو شعرونه :-

جينکـو دوئـي لـه پـېره مـۀ ورکـوئ
دوئـي ځـانګي نۀ پـه ټال خبرې کوي

زما په خـوا کښې ئې پـه خوب کښې اووې
چپ شــئ دغــې اقبـالؔ خــبرې کــوي

نــن د اقبــال شـــاکرؔ کـليزه کـــوو
راځـــئ چې کېږدو جيـنکو نکريزې

زمــا پــه عـقل اؤ پــه فهم بـاندې څـۀ شـوي دي
وخــت رانـه پـوزه پرېکوي زۀ ترې پېزوان غوا ړمه

پـه هـر طور شعر ليکنه يو غېر شعوری او الهامي عمل دے ـ دې کښې د شاعر د شعور دومره دخل مداخلت نۀ وی ـ ولې بيا هم تر څو چې ادب ادب وی تـرهغې به د تنقيد ځائې باقي وی ځکه چې د تنقيد بنياد هم په اصل کښې هغۀ دے ـ کوم چې پخپله د ادب دے ـ خو د ځان په حقله به زۀ د ستـر ليـکوال ټي ـ ايس ـ ايليټ دا قول رانقل کړم ـ چې "زۀ (د بل



Pukhto.Net

په شاعرۍ) پخپل تنقید کښې سمه او صحیح رائې ورکوؤم ـ ولې پخپله شاعرۍکښې زۀ د هغې په پخپله خلاف ورزی کوؤم ـ تا سو کۀ زما دا عمل د منافقۍ سره تعبیروئ هم نۀ ولې دا په یو لحاظ زما په دوه شکله کښې څرګند بدل ضرور دی"۔

په آخر کښې به د ګران ملګری اقبال شاکرؔ په حقله دومره قدرې اووېم ـ چې د فطرت شېخ ملی چې شاکرؔ له دفکر کومې زمکې په وېش کښې ورکړې دی ـ هغه څربې هم دی ـ د ابو لاندې هم دی ـ او ښېرازه هم دی ـ ددې زمکو فصلونو چې کومې بمبلې کړې دی ـ د هغې تخم به د یو سفزو غر په سمه پرګنې پخپلو میوو مړې کړی ـ انشاءالله

علی خېل دریابؔ
آماندره ملاکنډ ایجنسی
۴ ـ اپرېل ۲۰۰۳ء

Pukhto.Net

# حســـنیان

اے فـراته کۀ تۀ ټول جهان سېراب کړې
ستا په غاړه مړۀ د تندې ماشومان شول

کۀ کابل دے کۀ کشمیر کۀ فلسطین دے
حسنیان زمونږ په وراندې شهیدان شول

Pukhto.Net

دا سترګې دې اشـنا لـږې پښتو سره اشنا کړه
دا تورې چې پرتې دی دا ددې په سر پرتې دی

بـقـا تـه ارتـقـا د پښتنو پـه حـقـلـه اووې
د دوئ خـو لا تـر اوسـه لـوپټې پـه سر پرتې دی

# پېـــرزوئينې

دا اختـر د بـڼ نـڼـالـونـه
ګـورې زلفې ولـونه ولونه
ښـکـلـې سترګې رخسارونه
شـنـهٔ بـنـګـړي او مړوندونه
پـه نـکـريـزو سـرهٔ لاسونه
دا پـه واؤرو کښې پټ غرونه
صـحـرا ګـانـې او سيندونـه
دا چـيـنـې او سـرابـونـه
ورشـوګـانـې ابـشـارونـه
ونـې بـوټـې او ګـلـونـه
ټـولـې زمکې اسمـانونه
هـم هـيـرې جـواهـرات
نـمـر سـپـوږمـی او کـائنات
زمـا خـپـل زمـا خـپـلوان
زمـا ټـول خـواږهٔ يـاران
زمـا ښـکـلـی ښـکلی رونـه
زمـا مـټـې وزرونـه
زمـا خـوېـنـدې پاک دامنې
دی پـه مـا بـانـدې مـئينې
زمـا ګـل ګـل مـاشـومـان
د جـنـت د بـاغ طـوطـيـان

اقبال شاکر

Pukhto.Net

زما پلار چې زما پلار دے
زما پلار چې معتبر دے
زما پلار چې زوره ور دے
زما پلار چې يو صوفي دے
زما پلار چې قلندر دے
زما مور چې زما مور ده
په سينه کښې ئې الفت دے
په نظر کښې ئې شفقت دے
او په پښو کښې ئې جنت دے

زما روح زما ځيګر
زما فکر او هُنر
زما ژوند زما جانان
زما ځان زما ارمان
غرض دا چې ټول جهان
شه قربان د مُحمّد رسُول اللهﷺ

Pukhto.Net

○

زۀ په یوه دعا کښې دا غواړم هم دا غواړمه
خپل لېونتوب لـه اؤ ستا حسن له بقا غواړمه

زۀ ټوله شپه لکه د پرخې هسې نۀ ژاړمه
زۀ ستا په سرو شونډو د ګل غوندې خندا غواړمه

ستا نه بغير به په ګلونو باندې څۀ کوومه
اول ترې تا غواړم ګلونه به ترې بیا غواړمه

چې د خپل ځان دپاره کومه دعا غواړم خدایه
د خپل رقیب دپاره هم دغه دعا غواړمه

هلته چې هر څۀ راکوې هغۀ دې خپله خوښه
هلته څۀ نۀ غواړمه دلته پښتونخوا غواړمه

شاکره زۀ د هر انسان د خوشحالۍ دپاره
په ټول جهان باندې سپرلے غواړم رڼا غواړمه

Pukhto.Net

تصور مې د بې نیاز په زړهٔ کښې پروت دے
دامې څهٔ ښکلے اعجاز په زړهٔ کښې پروت دے

د فطرت د زړهٔ وسعت درته معلوم دے
د ازله ئې یو راز په زړهٔ کښې پروت دے

ستا د حسن اسمانونه لرې نهٔ دی
خو یو تِرک د عشق د باز په زړه کښې پروت دے

کهٔ د اور باران ورېږی خو تهٔ خاندې
گله ستا مې دا انداز په زړهٔ کښې پروت دے

محبت د محلونو نه بې نیاز دے
د محمود خو هم ایاز په زړهٔ کښې پروت دے

وخته ډېرې کهٔ وزرې راله پرېکړې
خو امید مې د پرواز په زړهٔ کښې پروت دے



Pukhto.Net

ته زما د مرتبې نه خبرنه يې
لېونتوبه زما ناز په زړهٔ کښې پروت دے

نظر باز که د نظر په باز نازېږی
دغې باز ته يو شهباز په زړهٔ کښې پروت دے

دواړه خنک د يوې لارې لاروی يو
ستا انجام زما اغاز په زړهٔ کښې پروت دے

د محفل په ساز انداز باندې پوهېږی
د شاکرؔ سوز او ګداز په زړهٔ کښې پروت دے

Pukhto.Net

د شوخو سترګو د سلام په معنیٰ نهٔ پوهېږم
زهٔ لېونے دَ خپل مقام په معنیٰ نهٔ پوهېږم

په دې پوهېږمه چې هره ورځ دا نمر راخېژي
خولا تراوسه د ماښام په معنیٰ نهٔ پوهېږم

وائي چې زهٔ د احترامه تا ته نهٔ ګورمه
تهٔ به وې زهٔ د احترام په معنیٰ نهٔ پوهېږم

زهٔ په پښتو باندې مئین یم په پښتو پوهېږم
د بلې ژبې بل کلام په معنیٰ نهٔ پوهېږم

یم نابلده خو ساقي لا دومره هم نهٔ یمه
چې په محفل کښې د يک جام په معنیٰ نهٔ پوهېږم

زهٔ د جمال د هر يو حرف په معنیٰ ښه پوهېږم
خو ستا د زلفو د يو لام په معنیٰ نهٔ پوهېږم

کهٔ چاوژلے یم د خدائے په نوم بخښلے دے ما
شاکره نور د انتقام په معنیٰ نهٔ پوهېږم



Pukhto.Net

ستا د ښائست زما د زړهٔ د زور خبرې کوي
دا خلق څنګه داوبو او اور خبرې کوي

زمونږ د کلي لېونی دی په رښتیا لېونی
په زولنو کښې د بنګړو د شور خبرې کوي

چې تورو زلفو د سپین مخ سره ترون خوړلے
خلق په کومه خُله د سپین او تور خبرې کوي

ستا محبت داسې ساهو کړم داسې غلے کړمه
لکه ماشوم ته چې په غوږ کښې مور خبرې کوي

خدایه دا څهٔ په سوګوار حسن دې واړولم
لکه د ګونګې شهزادګۍ په زور خبرې کوي

دا د خودۍ اؤ د انا د تقدّس نه خبر
اوس په خپل کور کښې هم د بل د کور خبرې کوي

Pukhto.Net

د خاموشۍ نه ویرېدمه خو اوس نهٔ ویرېږم
د خاموشۍ سره مې ستا انځور خبرې کوی

دوئ خو خټک او لور په لاس کښې هم اخستے نهٔ دے
شاکره هسې د خټک او لور خبرې کوی

## زړهٔ او سترګې

يقين اوکړه جانانه چې په تا باندې خوږېږی
بې تا به زما سترګې بل په چا باندې خوږېږی
خو
د سترګو نه رادېخوا چې رښتیا خبره اوکړم
دا زړهٔ مې په پښتو او پښتون خواه باندې خوږېږی

یوه تلوسه ده د ارمان په زړۀ کښې
خدائے خبر څۀ دی د دوران په زړۀ کښې

نن ئې د سترګو نه بڅری دانګی
څۀ ورته وېلی دی شېطان په زړۀ کښې

زۀ د خپل زړۀ نه بهر نۀ اوځمه
ما بندی کړے دے خپل ځان په زړۀ کښې

داسې پوهېږم د جانان په سترګو
لکه چې ناست یم د جانان په زړۀ کښې

په دې خبره باندې پوهه نۀ یم
کرکه لا هم وی د انسان په زړۀ کښې؟

هسې د خُلې خبرې خوند نۀ کوی
زما شاکرؔ دے په ما ګران په زړۀ کښې

Pukhto.Net

د فساد او د نفرت نه مې زړۀ تور دے
محبت زما په ذهن باندې سور دے

څو څو ځله مې په دې شوه توبه ماته
چې زما د ميخانې په خوا کښې کور دے

چې انسان دے نو زما د زړګی سر دے
غنم رنګے دے که سپين دے او که تور دے

د سړي د سر تپوس د چا نه اوکړم
دلته هر سړے په خپله سړی خور دے

د اسمان لمنې سرې دی خدائے دې خبر کړی
لګېدلے بيا د چا په خُونه اور دے

د زندان او زولنو نه نۀ وېرېږم
زۀ خوشحال يم ما ليدلے رنتهنبور دے

Pukhto-Net

کــۀ څــۀ بیــا چــرتــه یو ګل شــو پــاڼې پــاڼې
بــلــبــلانــو د ګــلـشــن جــوړکــړے شــور دے

چې ســاقي ورتــه پــخـپـلـه ست د جــام کړي
نو شــاکِرؔ کــۀ مېــخــور نۀ وو خو مېـخور دے

# کــرب

د ژوندګۍ په فـلـسـفـه کـښې دا تـضاد د څۀ دے
چې ژونده سر د ژونـدګـۍ په معنیٰ نـۀ پوهېږي

مـا د تخلیق کـرب دے تېر کـړے زۀ بې وسه نۀ یم
زمـا یـاران د بې وسـۍ پـه مـعنیٰ نـۀ پـوهـېـږي

Pukhto.Net

تمبل تود شو اور بلېږي
جینکۍ ورته تودېږي

داسې یخه یخه کېږي
لکه پرخه چې ورېږي

اوس په ما لکه د ناوې
سنبال کړې راغورېږي

د خوشبو مزاج زما دے
د ګلونو نه تاوېږي

د خوشبو مزاج د یار دے
د هوا سره خورېږي

د ماشوم پشان اوده شم
چې بنګړي راته شنېږي

Pukhto.Net

دا زمونږه د سر سپوری
د خپل سپوری نه ویرېږی

په جنګرېزباندې مئینه
ګورے جنګ درنه سرېږی

د رېدی خوانی به خهٔ کړې
د هوا سره رژېږی

چې په ما پورې منسوب شوه
د ګلونو نه پټېږی

داتیکونه تعویزونه
د اورونو نه تېرېږی

چې د سپکو سره نخښلی
کهٔ درانهٔ وی خو سپکېږی

Pukhto.Net

د رنګونو جادوګوره
د بوډۍ په تال څنګېږي

داسې لړلړ راته ګوري
ته به وائې چې کمېږي

په دې غرونو خدائے مئين دے
ننګيالي پکښې اوسېږي

د تنکو غوټو په بابله
دوه نوخېزې مشغولېږي

د ديدن په قحط سالۍ کښې
د شاکر ذهن شاړېږي

خېبر اؤوې بخت روانه
شاکر هم په شعر پوهېږي



Pukhto.Net

داچې خبرې ستا د زلفو او رخسار کوومه
سبا به پرې پوهېږمه چې لوبې د انګار کوومه

چې زما مینه د الفت د درد نه نه ده خبر
د حپا دپاره د ګلونو کاروبار کوومه

د خپل ځيګر د وينو خال د يار تصوير له ږدمه
د خپل ارمان ناوې له بل شانې سنګار کوومه

لکه بورا د ګل په غېږه کښې خوب نه غواړمه
داسې بلبل مې کړه چې هر ځائے کښې چغار کوومه

هغه د خوب ليدهٔ څهٔ بل شانې خواږهٔ ليدهٔ وو
اوس هم قيصې د هغه خوند هغه خمار کوومه

زهٔ د سپرلي او د خزان په فرق نهٔ پوهېږم
خارمې خوړلے دے د ګل نه ځکه خار کوومه



Pukhto.Net

کۀ څوک ئې اوري کۀ نۀ زۀ د زړګي براس اوباسم
لکه شپونکے د غرۀ د سره يکه زار کوُمه

لړه رادېخواشه چې ځښې درله اوشمارمه
زۀ به ترڅو پورې اشنا د ګوتو شمار کوُمه

ملګرو زۀ د محبت د نظرئې قائل يم
ځکه ددې نظرئې هر ځائے کښې پرچار کوُمه

شاکره خلق د سپوږمۍ نه هم په پورته لاړه
زۀ ليونے لوبې په خال باندې د يار کوُمه

Pukhto.Net

○

مونږه ژړلي دي مونږ هر چا ته زاري کړې ده
د ډېر کړاؤ نه پس مو جنګ ته تياري کړې ده

سپرلے به خاورې د رامبېل چامبېل په خوند پوهه شي
په لوپټه باندې ئې بل شان ګل کاري کړې ده

کۀ سر مې اوغورزوې تۀ به څنګ سردار پاتې شي
زما په سر باندې دې دومره سرداري کړې ده

د خپل ارمان پروا مې څسکے هم ساتلې نۀ ده
د محبت سره مې عمر له خواري کړې ده

ازغي به ولې زما سترګو ته نيغ نۀ راګوري
ما د سپرلي جانان سره ياري کړې ده

زما د روح زما د زړۀ نه خوشبوئي راخېژي
د زړۀ په وينو مې د ګلو آبياري کړې ده

خدائے ګو کۀ اوس مې په خپل ځان باندې اعتبار پاتې وي
اقبال شاکر راسره هم بې اعتباري کړې ده



Pukhto.Net

○

ته په ما مئين ئې خو زما پښانې نه
زه په تا مئين يمه خو ستا پښانې نه

دومره اندازه چې لېوني درته کتے شي
خانده خو د تندر او برېښنا پښانې نه

زه په اشارو او کنايو باندې پوهېږم
حورې يادؤوم خو د مُلا پښانې نه

بيا به آئيني غوندې بې حسه حق حېران ئې
ځان سنګارؤوم خو د بېګا پښانې نه

غواړم چې دنيا پرې د دنيا په خوږو پوه کړم
غواړمه دنيا خو د دنيا پښانې نه

ژوند خو هغه ژوند وی چې څوك اؤوائې چې ژوند دے
ژوند به تېرؤو خو د سزا پښانې نه

ما د ګل خندا ته شه په غور دی کتلی
ستا په شانې خاندی د بل چا پښانې نه

Pukhto.Net

○

چې موسم د نو بهار شی
د زړۀ درد مې لږ قلار شی

په دا هسې ځان ځانی کښې
څوک به څۀ د چا نه زار شی

دا دنیا به ورانه نۀ شی
یو منصور کۀ بل په دار شی

محبت یو داسې کار دے
چې سرے پکښې د کار شی

ستا په سترګو به رغېږی
ستا د سترګو چې بیمار شی

مونږ په داسې ښار کښې اوسو
چې د ګل نه پکښې خار شی

Pukhto.Net

د سپوږمۍ په زړه تياره شي
مه جبينه چې سنګار شي

زهٔ به ستا په لارکښې ناست يم
کهٔ ټول عمر انتظار شي

ټول جهان بې لارې شوے
يو شاکرؔ به څنګ په لار شي

## ماہیے

کله راته نهٔ ګورې او کله راته او خاندې
مړ مې کړې د ويرې نه نو هله راته اوخاندې

زهٔ درې مرور نهٔ يم ما پښتو نيولې ده
خدائے ګو کهٔ رضا شم که زر ځله راته اوخاندې



Pukhto.Net

لا مې د يو نظر اثر مات کړو
زړ ځله ما په ځان نظر مات کړو

زما په سر باندې سودا ته جوړ شو
دا مې د چا دپاره سر مات کړو

لوظ ئې خومره بې هنره اوکړو
لوظ ئې خومره په هنر مات کړو

زما الوت ته ئې نور نۀ شو کتے
هر يو سړی راله وزر مات کړو

زما قسمت ته زمانه پسخېږی
ما د ښائست د رشې سر مات کړو

اوس ئې تږې ښنګه راټولې کړمه
زما زړګے ئې په ګودر مات کړو

د لېونی ګوتې تناکې نۀ شی
شاکره ګل ئې د ښنډر مات کړو

○

تمـنـا مـې د زړهٔ راغـلـه پېغلتوب کښې
اضـطـراب مې لا سېوا شو زلميتوب کښې

د دنـيـا د سـود او زيـان نـه ښـه خـبـر ده
لېونۍ ده چې راځـي زمـا په خوب کښې

د جـنـت د حـور و ذکـر مـاتـه مـه کـړه
مـا ليدلې پښتـنـه پـه ناوې توب کښې

اوس بې زړهٔ يم اوس د سترګو د جنګ نهٔ يم
چرته تلې وې په وخت د زړهٔ ورتوب کښې

د ګـلـونـو او سپـرلـو راتـه زړهٔ اوشـي
چې جـانـان راته راګوري مسکيتوب کښې

پـه دنـيـا کښې کـهٔ سړے دے لېونے دے
دے شـاکـرهٔ سـړی توب په لېونتوب کښې



Pukhto.Net

هغه کوه لالیه څه چې دی په زړه جوړېږي
خو هغه مه کوه چې څه مې په زړه نه جوړېږي

چې د خپل زړه قیصه مې تموله ورته تېره کړله
وې ئې د دې نه خو ښه ښکلې افسانه جوړېږي

مونږ مېخواران دومره بې وسه بې همته شو چې
اوس په چنده زمونږ د کلی مېخانه جوړېږي

ته هډو ښکلې نه وې ما درته کتلی نه وے
ددی خبرې نه به خدائے خبر چې څه جوړېږي

د انتظار خوږو په دې فلسفه پوهه کړمه
چې د لمحو د تسلسل نه زمانه جوړېږي

نرګسي سترګې ، ګلابي رخسار ، غانټولې شونډې
جانان چې خاندي نو دَ دې نه ګلدسته جوړېږي

زما او ستا خندا شاکره څه د خوند خندا ده
لکه د زیر نه او د بم نه چې نغمه جوړېږي

Pukhto.Net

د اور جامې په سور سپرلی کښې هم ګلاب نهٔ کوی
د زړهٔ خبرې مې په سترګو کښې جناب نهٔ کوی

کهٔ ته را نغلې خبر دے زهٔ به خا مخا درځمه
په یارانه کښې خلق دا حساب کتاب نهٔ کوی

لېونے شهٔ یمه د تندې نه مې څهٔ له وژنې
سترګې دې پټې کړی خو خوځی دې د سراب نهٔ کوی

هغوئی ته اووایئ چې ستاسو خو ایمان معلوم دے
ستاسو د خُلې نه خوند قیصې د انقلاب نهٔ کوی

د دې وطن په موسمونو باور پاتې نهٔ دے
واړهٔ دې لوبې اوس په غاړه د دریاب نهٔ کوی

کومې کانې چې د دولت نشې په مونږه اوکړې
داسې کانې خو په سړی باندې شراب نهٔ کوی

Pukhto-Net

دلته کښې هر سړے په ځان کښې په جانان کښې پروت دے
دلته څوک فرق د ګناه او د ثواب نۀ کوی

د شیخ د علم او عمل تپوس زمانه اوکړۀ
ډېرې لوستلی خو عمل په یو کتاب نۀ کوی

د یار د سترګو نه د عمر شوخی چرته لاړه
شاکره لوبې اورونه په نقاب نۀ کوی

## اعتراف

په دې جهان کښې د الفت په معنیٰ څوک پوهېږی
ددغه ټکی د عظمت په معنیٰ څوک پوهېږی

نۀ "ما" دَ چا سره پالِلے نۀ زما سره "چا"
"زما" اؤ "چا" نه زیات د پت په معنیٰ څوک پوهېږی

○

چې د بام د سره ښنګه راښکاره شوه
د شلېدلې ګرېوانهٔ په ننداره شوه

څه رقيب خو خبر دے ستا د غاړې هار شو
خو زما ځواني په څهٔ باندې سکاره شوه

بيا کافر شوم د جانان په کوڅه تېرشوم
بيا ټول کلے يو اواز يوه ناره شوه

تاچې زلفې راخورې په سپين رخسار کړې
په ټول کلي کښې په ماباندې تياره شوه

د شفق په شان دې شونډې تکې سرې کړې
د هيبته تکه زيړه نظاره شوه

چې په کومه خاوره ستا نظر پرېوتے
د زرګر په دکان نهٔ ده خو نياره شوه



Pukhto.Net

دجهـان ښـکلا چې تـولـه شـوه راټـولـه
تـرې نـه جـوړه سـتـا د حسـن مـناره شـوه

د وفـا بـوسـه بـه بلـه وی شـاکـره
دا بـه یـوه د جـفـاگـانـو کـفـاره شـوه

## مظ او دوړه

د ارمـان فـصـل مې پـه لـلـمـه زمکـه اوکـرلو
سېزلے لوئے شو چې مې لوکــړو وریځ گوره شوله

د ببلـتـانـه ژرنـدې تـه وې مې وړو پـه وړې خـبـټـه
دا مې نـصـیـب وو نـیـم شـو مظ او نـیمـه دوړه شـولـه

Pukhto.Net

ستا لـوپټـه زمـا پـه سر خوره شوه
ښه شوه قيصه زما په سر خوره شوه

ټولـې نشې ځې رانه هېرې کـړلې
داسې نشـه زمـا پـه سـر خوره شوه

لـکـه غـوټۍ زمـا پـه نـوم راټولـه
لکـه وږمـه زمـا پـه سر خوره شوه

مـا رڼـا گـانـې وې مـدام ستائيلې
توره تياره زمـا پـه سر خوره شوه

نهٔ مې سر پټ شو نهٔ سينه پټه شوه
هسې ريښـه زمـا پـه سـر خوره شوه

د سـور سـالـو مېـرمن خبر شوه کهٔ نهٔ
چې سره لمبه زما په سر خوره شوه

شـاکـره ستا يمـه خو ستا نهٔ شومه
لاړه جـرگـه زمـا پـه سـر خوره شوه



Pukhto.Net

د سپوږمۍ پشانې ښکلې
ما په زړهٔ پورې نیولې

که مئین ئې نو را واوړه
دغه کرښه مې راښکلې

په پتنګ باندې مئین یم
دا ډیوه چې مې وژلې

لږ مې پرېږده چې اودهٔ شم
ټوله شپه مې ده خوړلې

لیونۍ مخې له راغله
زیړ زبېښلې سا نیولې

د پښتو تقاضه څهٔ ده؟
زما غولی له راغلې

Pukhto-Net

اوس دې خدائے کړي چې رڼا شي
د نمر سترګه مې داغلې

مصلحت، محبت دواړو
د شاکر شونډې ګنډلې

## ته او زه

تاچې د شفق سرخي راټوله کړه نقشونو کښې
ما د خپل ارمان څهره لیدلې په اورونو کښې

تاچې څهٔ زده کړي تا د ساز په خُله زده کړي دي
ما چې څهٔ زده کړي دا د سوز په کتابونو کښې

Pukhto.Net

○

زهٔ د خپل ضمیر منصف ته وړ یمه
خبر دے کهٔ دې ټول جهان ته پړ یمه

زهٔ لکه د ګل غوندې په ړکه خُله
خاندم خو په وینو کښې ککړ یمه

هسې دې ناصح سرخُوږے نهٔ کوی
زهٔ په شانستونو باندې مړ یمه

ستا د کلی کور د غمازیانو نه
سم ذرې ذرې بُوچړ بُوچړ یمه

ماته دې اغیار په سپکه نهٔ ګوری
زهٔ د پښتو نخوا په خاوره خړ یمه

چرته چې نرۍ کښې یزیدیت وینم
زهٔ به د حسینؓ په ملا تړ یمه

زهٔ د نزاکت په باطن پوهه یم
خبر کهٔ په ظاهره شارشبر یمه

ماله تیتېده شکر دے نهٔ راځی
زهٔ شاکرؔ دغرهٔ پشانې لوړ یمه

## د ښاپیرو ګاونډ

دا چې په زیر زیر باندې ستا سترګو ته نهٔ شم کتے
ښکلیه زهٔ د آئینې پشان کلك سترګے نهٔ یم

ما د ښائست د سمندر په غاړه ژوند تېر کړے
اوړے به یمه خو قسم دے چې اوږ سترګے نه یم



Pukhto.Net

ګودر راته رایاد شو ماځیګر راته رایاد شو
زړګی مې څړیکه اوکړه ستا نظر راته رایاد شو

چې تا په تورو زلفو کښې رنګ رنګ ګلونه قط کړه
د کلي په بڼونو کښې اختر راته رایاد شو

خاطر دې پرې دروند نه شي کۀ د راشه په ځائے "را" شو
ستا قد ته چې مې اوکاته خپل ور راته رایاد شو

ستا سترګې تکې سرې شوې ستا بانه لشې لشې شو
سنګر راته رایاد شو او لښکر راته رایاد شو

د ژوند په ورشوګانو کښې چې ځانله ځان ځانلے شو
غوبل راته رایاد شو او اشر راته رایاد شو



Pukhto.Net

○

د جـانـان بـانـهٔ پـه سترګو کښې پراتهٔ دى
دا مې سـم د زړهٔ پـه سـترګو کښې پراتهٔ دى

لېونے چې درتـه سـم کېـتلے نـهٔ شـى
سـتا کـاتـه ددهٔ پـه سـترګو کښې پـراتهٔ دى

ډېـر بـه وائـى چې دا اوښـکې د رنجو دى
زمـا تـور اوبـهٔ پـه سـترګو کښې پـراتهٔ دى

تـا پـخـوا چـرتـه خـنـدلى مـاتـه نـهٔ وو ؟
دامې هـغـه ښـهٔ پـه سـترګو کښې پـراتـهٔ دى

شـنهٔ پټى وو شـنې جامې وې شنهٔ بنګړى وو
اوس مې هر څهٔ شـنهٔ پـه سـترګو کښې پراتهٔ دى

پسـرلـى پـه خـوب کښې هـم نـهٔ دى ليـدلى
سـتا خـو هـغـهٔ څـهٔ پـه سـترګو کښې پراتهٔ دى

Pukhto.Net

ستا د مخ خـــالونـه هـم د تضـــاد ښکـار دی
دوۀ په اور کښې دوۀ په سترګو کښې پراتۀ دی

زمـــانــې د مـــحـبـت خـــوارۀ تـراخـــۀ دي
نۀ په زړۀ کښې نۀ په سترګو کښې پراتۀ دی

یـو شـاکِـرؔ پکښې زمـا سـتـرګـو تـه ګـوری
نور مې ټول اودۀ په سـتـرګـو کښې پراتۀ دی

# پـــېغور*

د ښـــائسـتـونـو انـبـارونـه وړمـه
نـن نـه دلـو دلـو ګـلـونـه وړمـه

زمــا قــاتـل زمــا کـلـیـزه کـوی
زۀ په تحفـه کښې بهـارونـه وړمـه

* په شپږم اګست په امریکه کښې یوه دستوره نمانځلے کېده
چې د جاپان سفیر پکښې هم ګلونه په لاس کښې ګډون کوو.



Pukhto.Net

لکه ناست چې زۀ په زړه کښې د ربیار یم
خبر نۀ یم خو په هر څۀ خبردار یم

تنګ نظره ناقدان مې خزان بولي
نور خو زۀ د ګلو رنګ یمه بهار یم

د ازله تۀ ښائسته ئې پیدا شوے
د ازله زۀ په تا پسې بیمار یم

رقیبان کۀ راته ډېر داموُنه کېږدي
ما د یار سترګې لیدلې دي هوښیار یم

نور غمونه مې د ډېرې لاندې کړي
کۀ راځې د جانان غمه ښۀ اوزګار یم

د نرګس پشان مې سترګې نه پټېږي
خدائے خبر دے چې د چا په انتظار یم

چې یاران ورته د خپله ځانه ګران وي
زۀ شاکرؔ د پښتنو یارانو یار یم

Pukhto.Net

○

مـا وي کــهٔ زمــا پــه زړهٔ کښې زړهٔ نِشته
دا خــو د هیـڅـا پــه زړهٔ کښې زړهٔ نشته

تــهٔ ورتــه شــلېدلے ګرېوان پـرېوځـه
ګــلــه د بورا پــه زړهٔ کښې زړهٔ نشته

نـن ئ د دروغــــو وعـده کــړې ده
نن مې پــه رښتیا پـه زړهٔ کښې زړهٔ نشته

یـو بـڅـرے هــم تیارې لــه بس دےخو
هســې د دنیــا پــه زړهٔ کښې زړهٔ نشته

وختــه تــهٔ راګــورې زهٔ درګــورمــه
وایــه اوس د چا پــه زړهٔ کښې زړهٔ نشته

تـا بــه هــم زمــا پشــا ن نـازونــه وړهٔ
شـکـردےچې ستا پــه زړهٔ کښې زړهٔ نشته



Pukhto.Net

په دې باندې پوهېږمه چې څو کربښې راکاږي
جانان چې چرته ځي نو په چنو کربښې راکاږي

سپرلے وي که خزان وي که سیلۍ وي که باران وي
فطرت زمونږ د کلي په ورشو کربښې راکاږي

دا څوک خپلې ښکلا د بوږۍ تال ته خېژولې
دا څوک زما په زړه د پلوشو کربښې راکاږي

زۀ دومره سترګه وریم چې د کومه ځایه پاڅم
په هاغه ځګۍ* خلق په چپړو کربښې راکاږي

راځه کنه خزانه چې ښۀ کلکه یاري اوکړو
سپرلےمې په احساس د سرولمبو کربښې راکاږي

د چا چې د تاریخ په یوه پاڼه کښې نوم نشته
هغۀ په تاریخ سازو پښتنو کربښې راکاږي

پخوا مې یوه کربښه په خپل مخ راکښلې څۀ وه
شاکرؔ د ګل په پاڼو په بڼو کربښې راکاږي

* ځانګې



Pukhto.Net

○

مـا دې د ضــد او د انا آئیـنـه مـاتـه کـړلـه
ډېره پـه ګـرانـه مــې اشـنـا آئینـه مـاتـه کـړلـه

پـه خپـلـه هـم آئیـنـه ځـان تـه حـق حېرانـه شولـه
پـه کـوم هـنـر دې پـه خـنـدا آئینـه مـاتـه کـړلـه

مـا ورتـه هـســې وې چـې ستـا دا آئینـه مـاتوؤم
هغــې نـامـردې پـه ربښتیا آئیـنـه مـاتـه کـړلـه

دغــه ارمـان بـه دې تـول عـمر پوره نـۀ شي اشنـا
پـه کـوم ارمـان پسـې چـې تـا آئینـه مـاتـه کـړلـه

مــا وې زمــا ده د هــر چــا سـره خبـرې کـوی
ځـکـــه مـې دغـــه بې وفـا آئیـنـه مـاتـه کـړلـه

چــا وې داخــال د آئـیـنــې پـه زنـه چــا وهــلے
دغــــه ښـائـســت دغـې ښـکلا آئینـه مـاتـه کـړلـه

هغې ته بیا پـه خپـلو سترګو کښې شاکرؔ ښکارۀ شو
هــغــې د ډېـره قـهـره بیــا آئیـنـه مــاتـه کـړلـه



Pukhto.Net

○

په ما د مینې لارې سترې نۀ کړې
رانه چاپېره د غم لړې نۀ کړې

کله نا کله خو راپېښه کوه
زمونږ د کلي کوڅې شړې* نۀ کړې

شونډې دې هر وختې کلۍ غونډې وی
د گل پشان دې چرته مړې! نۀ کړې

مونږه د یو بل په سر دار ته خېژو
قسمته هسې اوبه خړې نۀ کړې

ملگرو ما په اباسین لاهو کړۀ
کۀ مې گلزار دا اوچې ترې نۀ کړې

بیابه د ځان ټوټې راټولې نۀ کړې
د زړۀ آئین مې دړې وړې نۀ کړې

ستا د ښائست شېبو شېبو شرابو
زما شاکرؔ شونډې ککړې نۀ کړې

* شاړې

○

مـاتـه دې غـم کـړو رالغاړې لاړې
جـانانـه تهٔ چې هغـهٔ لاړې لاړې

د ښـائستونو او سپرلو وطن ته
اوښـکې زمونږ سره همغاړې لاړې

زمـا راتلـهٔ رقيبان تول پاڅېدهٔ
د يـوګـزاره سـره خـراړې لاړې

ستـا د جـنـت د حورو ذکر څهٔ وو
چـې د مُلا د خَلـې نه لاړې لاړې

د چـم ګـاونډ جـونو زما ځلی ته
لاسونه چوټ* کړه په ولاړې لاړې

اوس به د ژوند سرې تودې تېرؤو
شـاکـرّه هغـه مستې غـاړې لاړې



Pukhto.Net

د لېونی د زړهٔ ارمان خومره تازهٔ تازهٔ دے
د للمې ګل ئې په ګرېوان خومره تازهٔ تازهٔ دے

چې د هجران د موسم دې تضاد ته څهٔ اؤوایم
زهٔ پسې مړ شومه جانان خومره تازهٔ تازهٔ دے

چا د ارمان په ځلې دوه اوښکې توئےکړې نهٔ دی
لړ ورته اوګورئ اسمان خومره تازهٔ تازهٔ دے

د چا د زړهٔ د وینې اور څهٔ په ناتار ورېږی
ګلونه خاندی ګلستان خومره تازهٔ تازهٔ دے

زما په زړهٔ کښې د یقین د ډېلو ډېلې اوشوې
د یار په سترګو کښې ګمان خومره تازهٔ تازهٔ دے

په دې جامو کښې مې د یار د کور طواف کړے دے
په دې جامو کښې مې ایمان خومره تازهٔ تازهٔ دے

د وصال طمع نرے باد دے خومره خوږ الوزی
شاکرهٔ اور ئې د هجران خومره تازهٔ تازهٔ دے

داسې پراتهٔ دی د بې وسه لېونو سرونه
لکه چې پرېکړی څوک د غرهٔ د خرېړو سرونه

په سره پېسه باندې خرخېړی دابه څهٔ چل کېږی
څومره ارزان شو پښتنو د پښتنو سرونه

د کار سرونه پکښې نشته خولتول به غواړی
زمونږه کلی ته راوړی دی اوبو سرونه

زهٔ ئې د ژوند او د ځوانۍ په خوږو پوهه کړمه
مړاوی دې مهٔ شه د بې باکه اننګو سرونه

دا د بیزو ګډو ګواړې دلته ډېرې ګرځی
یو څو پکار دی خوملګرود سړو سرونه

د خندا شنه شوه وې ئې مور مې راته داسې اووې
سم د ماښامه خلق کېږدی په منګوسرونه

چې وی کم ظرفه عالی ظرفه به هېڅ کله نهٔ شی
حپا په مړلو تېره کړی د ازغو سرونه

هغوئی د خپل راروان ژوند استقبال داسې اوکړو
قطار قطار ئې کړه زمونږ د شازلمو سرونه

شاکره تا ته مې په زلفو هسې لاس اوږهو
ګلونو کيښوده بې شماره په تلو سرونه

## دُعا

يو ترې غوا‌ړمه نظر لکه د باز
بل ترې غوا‌ړمه وزر لکه د باز

ستا د تورو تورو زلفو بلا واخلم
سردرې به کړمه سر لکه د باز



Pukhto.Net

خوږ مې چرته نهٔ کړو نظر داسې وی؟
خدايه د سپرلی ماښيگر داسې وی ؟

نهٔ د چا لاسونه په نکريزو سره
نهٔ د چا بنگړی شتهٔ اختر داسې وی ؟

سترگې ښکته ښکته بانهٔ مړاوی وو
زړهٔ مې ترې روغ راوړو سنگر داسې وی؟

سترگې خوږول خو لاروی کوی
زړهٔ چې درله خوږ کړی دلبر داسې وی

سر پکښې پټېږی نهٔ سينه د چا
اوس خو لوپټه او څادر داسې وی

نهٔ خو مات بنگړی شته نهٔ کودری شته
دا څنگه گودرے گودر داسې وی؟

Pukhto.Net

بيا به دې د روح نه خوشبوئي خېژي
ځار د ځپا د سترګو اثر داسې وی

سترګو کښې ئې سترګو ماته وې سحر
داسې وی شاکره سحر داسې وی

## ردِعمل

ستا د ښائست په خوږو پوهه نۀ شوم
د محبت د لېونتوب د لاسه

د محبت په خوږو پوهه نۀ شوم
ستا د ښائست او پېغلتوب د لاسه

Pukhto.Net

پېغلو په ګودر منګې مات کړې دي
ما د خپل ارمان قبرله وړې دي

هغه خلق تل په دار ختلي دي
چا چې په رښتيا خبرې کړې دي

ستا د جفا ګانو ستمونو نه
ياره زما زړۀ اؤ صورت سترې دي

مونږه د سرونو پروا نۀ کوؤ
دا دي په تلو کښې مو راوړې دي

دلته څوک د ځان تپوس کولے شي
دا خلق خو ټول د قبر مړي دي

پوهه يم زړګيه چې غښتلي تا
ټول عمر له دا د شګو پړې دي

خدائے خبر شاکره په دې ګل وطن
چا د محبت ذېلې پرېکړې دي

Pukhto.Net

○

خالونه لګول ئې ماځیګر زړۀ ته پرېوځي
د سبکلي غزوني د سحر زړۀ ته پرېوځي

د پېرو زاهدانو، مېخوارانو سره ناست یم
د حسن وعشق خبرې ئې اکثر زړۀ ته پرېوځي

لا نوره شوخي غواړې د شوخۍ بلا دې واخلم
د سترګو پلوشې خو دې د نمر زړۀ ته پرېوځي

بتان خو جوړول تراشل ددۀ کسب او کار دے
په زړو کښې یو چرته د آذر زړۀ ته پرېوځي

پښتو او پښتانۀ زما د روح زړۀ ته پرېوځي
ګودر او ماځیګر مې د نظر زړۀ ته پرېوځي

واعظه تۀ د مینې محبت درس شورو کړه
د مینې محبت خبرې زر زړۀ ته پرېوځي



Pukhto.Net

د ځـنـي ځـنـي خـلـقـو نـه بـه ځان پـه هنر خلاص کړي
خـو ځـنـي ځـنـي خلق پـه هـنـر زړهٔ تـه پـرېوځي

سـاعـت لـه راتـه وائـې ما وانهٔ وُربـده تـا څـهٔ وي؟
نـامـردي زمـا خـيال دې زوره ور زړهٔ تـه پـرېوځي

سـکون او اضطراب مې دواړه خوش دی پـه خپل زړه کښې
شـاکـرّه زمـا څـکـه سـمـنـدر زړهٔ تـه پـرېوځي

## شـــوخي

وې مـې دا خـبرې د څـهٔ وخـتـه پوري خوند کوی
وې ئې مـره دا خـو د نـا وخـتـه پوري خوند کوی

وې مـې د ګلاب ګلاب رخسار بوسه دې راکړه څه
وې ئې چې ګلونـه خو پـه لخته پوري خوند کوی

نهٔ د چا یادونو سترګې ښکته کړي
نهٔ زمونږه زړونو سترګې ښکته کړي

اورم چې زمونږه حوصلو ته به
لوړو لوړو غرونو سترګې ښکته کړي

هلته چې اشنا سترګې راپورته کړي
دلته کښې ګلونو سترګې ښکته کړي

مینه چې د دار سرته وراوخته
ټولو دستورونو سترګې ښکته کړي

ځار دې پښتنې د هسکو سترګو نه
تا د رواجونو سترګې ښکته کړي

څهٔ استقامت زمونږ د مینې دے
مونږ د پیغورونو سترګې ښکته کړي

زلفې د شاکرؔ مرى، ته پرېوتې
شرنګ شو زنځیرونو سترګې ښکته کړي

Pukhto.Net

د درد د لارې لاروی د څه نه څه خبر دی
د محبت د کار سړی د څه نه څه خبر دی

سګني پېغلې ئې راوړی په سراو وړی په غېږ کښې
بې خلې، بې زړه، بې سامنګی د څه نه څه خبر دی

زه لکه ونه همېشه د تبر لاسکې ژاړم
خپل مې وژلې شي پردی د څه نه څه خبر دی

ددې دنیا په خلقو څه تېر شو او څه تېرېږي
ګلونه وړي راوړي سپرلی د څه نه څه خبر دی

خلقو سرونه په دې کښېښوده چې سر پرې کېږدي
د یار د سپین مړوند بنګړی د څه نه څه خبر دی

زما په زړه کښې چې څه دی زما په زړه کښې ښه دی
ملګرو درد دے که زبیرګی د څه نه څه خبر دی

Pukhto-Net

د ژوند د تراږو تراږو شونډو د بوسې پۀ ارمان
ګلونه مړاوی شو ازغی د څۀ نه څۀ خبر دی

خاندم په دې چې چرته څوک راپورې اونۀ خاندی
شاکـرّه خلق لېوني د څۀ نه څۀ خبر دی

## مُدعا

یو ځلې د زلفو دار ته خېژمه
بیا دې پانې پانې شم خو ګل مې کړه

"بلـه مدعا مې د زړۀ نشته دے"
خدایه د حمّزه بابا غزل مې کړه

Pukhto.Net

څنګه چې هلته کښې ستا لاس نۀ رسي
دغسې دلته زما لاس نۀ رسي

مونږه جدا نۀ کړو مونږ مړۀ کړو دنیا
نور به په مونږ د دنیا لاس نۀ رسي

راشئ چې زۀ ئې درته چل اوښایم
په خپل زړګی کۀ د چا لاس نۀ رسي

زۀ د جفا سره بلد یم اشنا
خبر دے کۀ ستا د وفا لاس نۀ رسي

زۀ پیدا شوے یم د عشق په مذهب
زما د عقل په ما لاس نۀ رسي

نن مې دیدن په مړو سترګو اوکړه
کۀ چرته بیا مې سبا لاس نۀ رسي

شاکره هلته به خندا کوؤمه
چرته چې ستا په خندا لاس نۀ رسي

Pukhto.Net

جانان خزان هم د سپرلي پشان سمسور ګرځوي
زما ارمان د خپل ښائست په اوږو سور ګرځوي

چې ته بې ننګه بې وفا يې د چا نه خپلېږې
ستا په کوځه کښې لېونې دغه پېغور ګرځوي

هغه زما د خوږ زړګي په ټکور ښه پوهېږي
هغه په سترګو کښې زما دپاره اور ګرځوي

اول خو زه حسن پرست ووم د زړه زور مې ډېر وو
اوس مې دا څوک کلي په کلي کورپه کور ګرځوي

سندرو بل شاني خوږ والے او سازونه زده کړه
خو په خپل روح کښې د جانان د بنګړو شور ګرځوي

ما يې د خال د پلوشو په رڼا زړه وينځلے
تور ښه يم تورکه مې په دغه ګناه تور ګرځوي


Pukhto-Net

د چا نه ځان راټولول څهٔ دومره ګرانه نهٔ ده
ځان به راټول کړی ولې زړهٔ به مدام خور ګرځوی

چې د جانان د رخسارونو نه بڅری دانګی
ما به په ځان پسې پخپله سوے سکورګرځوی

د هغهٔ حسن نزاکت ته نزاکت حیران دے
د رنجو خال هم د شاکرؔ د زړهٔ په زور ګرځوی

# قناعت

هغه د کلی لوئے وارهٔ پیژنی
ما په خپل کور کښې هم څوک نهٔ پیژنی

خوځه زما د پاره دا پوره ده
چې زهٔ هغه او ما هغهٔ پیژنی



Pukhto.Net

○

په آئینه کښې د خپل ځانه سترګې مهٔ پټوه
سترګې راواړوه جانانه سترګې مهٔ پټوه

په طمع طمع ستا د سترګو سترګې پټې نهٔ شي
په ما مئینه په ما ګرانه سترګې مهٔ پټوه

چرته به دا ستا د ښکلا محل ته اور ورته کړي
د مئینا نو په سر خانه سترګې مهٔ پټوه

سترګې به پټې شي کهٔ تا ترې سترګې پټې کړلې
زهٔ پرې ژوندے یمه زمانه سترګې مهٔ پټوه

یواځې ستا په سر دنیا خوښهٔ ودانه نهٔ ده
ژوند به مې تېر شي بې لتا نه سترګې مهٔ پټوه

راځې په خپله په راتلو خولې شان صبر اوکړه
زما د خوږ زړګی ارمانه سترګې مهٔ پټوه



Pukhto.Net

د درد رشتــه پرېکـول نــهٔ غــوارمــه
یــارانو نور څــه وئیل نــهٔ غــوارمــه

د بل په جـنګ کښې ټوپک نـهٔ را اخلم
هسې خپـل ځـان تویول نـهٔ غوارمـه

خوښ مې ګلونه خوشبویانې دی خو
د غـوټـو زړونـه چـول نـهٔ غـوارمــه

داچې هر غم دې پـهٔ خـندا تېروُم
ځان پورې ځوک خندول نـهٔ غوارمه

ستـا د دیدن پـهٔ ارمـان ژوند تېروُم
مـهٔ راځـه دے ربـړول نــهٔ غــوارمــه

شــاکـرهٔ ستـا ګـرېوان شلېدلے سبـهٔ دے
زهٔ خپـل اوربل خـورول نــهٔ غــوارمــه



Pukhto.Net

زما په مینه کړی ګمان یاران
ماته د خپله ځانه ګران یاران

ژوند له د سرو وینو ځروب ورکوی
د سرو ګلو نو په ارمان یاران

راځه جانانه راترغاړه وځه
هاغه دی راغله رقیبان یاران

زما د ژوند د هر یو راز نه خبر
خدائے خبر ولې دی حېران یاران

د لېونی یاران تالا ترغۀ شو
کوی د ځان سره یاران یاران

خدایه دا باغ د شلتالانو اوچ کړې
خدایه په خپلو کښې کړې وران یاران

د زرو قدر د زرګر سره وی
شاکره څۀ شو زرګران یاران

Pukhto.Net

وربېږې مې په زړهٔ باندې ګلونه شرابونه
په سترګو کښې دې راوړه بهارونه شرابونه

د زړهٔ د درد علاج خو یا دیدن وی یا شراب
په ما باندې ئې بند کړهٔ دیدنونه شرابونه

ملګرو څم مُلا له چې تعبیر ئې راته اوکړی
په خوب کښې مې لیدلی دی جامونه شرابونه

ساقی په مېخانه کښې د کمال خبره دا ده
د خلقو را برڅېره کړی ذهنونه شرابونه

بیا توله ورځ هرچا وته په یکه خُله خندا کړی
سحر د غمه اوښی ګلابونه شرابونه

زما د محبت انجام به خدائے خبر چې څهٔ وی
وربېږې رنګینی اؤ رنګونه شرابونه

Pukhto.Net

نظر له مې د شونډو رخسارونو سرخی راوړه
راوا ړوه دې جام ته شرابونه شرابونه

خالونه د رنجو ئې د وښکی لاندې وهلی
د څان سره یونهٔ سی داخالونه شرابونه

د ژوند په شاړه دشته به د ګلو کر کوؤمه
شاکرّه کهٔ راښکې شو بارانونه شرابونه

## قسمت

ګرانه چې تا له سترګې تورې کړمه
زهٔ به دنیا له سترګې تورې کړمه

نن مې رجړومه سلائی راخستی
اؤوایه چا له سترګې تورې کړمه



Pukhto.Net

په خپل وجود مې لمبې پورې کړلې
ستا د ارمان ستړګې مې توري کړلې

ښځه په صلاح ئې په مېینو پسې
د دیدنونو تمبې پورې کړلې

سحر چې کومې د وفا ډکې وې
ماښام ئې هغه ستړګې نوري کړلې

ماوې چې څه د دام نه اووتمه
هغې خو بیا زلفې سمسورې کړلې

مغربه ځومره ترقي دې اوکړه
ځومره تورسرې دې سرتوري کړلې

ددې شاکرؔ شرابي غم پکار دے
د کلي جونه ئې مېخورې کړلې

Pukhto.Net

کۀ مئین زړۀ له د هجران په شپه کښې خوب ورشی
دا خو به ده له د بلا په خُله کښې خوب ورشی

زۀ خپل ارمان سم دمه څائے ته رسول غواړمه
طوفان له هم د سمندر سینه کښې خوب ورشی

زۀ ستا په غېږ کښې ستا د زلفو پرېشانی یوړمه
لکه چې چاله د سپرلی غرمه کښې خوب ورشی

دلته خو هره یوه لمحه د سړی خوب تښتوی
کوم لېونی له به په دې کالۀ کښې خوب ورشی

د محبت د کلی خلق څۀ اودۀ اودۀ دی
لکه چې درد له د پرهر په زړۀ کښې خوب ورشی

چې د خزان د سیلۍ لار هډو نیولے نۀ شی
ګل له به څنګه په ناتوانه غړۀ کښې خوب ورشی

په شوګیرو باندې مئین دے په ما نۀ دے مئین
شاکرؔ له څکه په قیصه قیصه کښې خوب ورشی



Pukhto.Net

○

ژوند مې د خالونو تور په زړهٔ پورې نيولے دے
دامې هېر د زړهٔ په زور په زړهٔ پورې نيولے دے

هر يو سينه خوږې د سپرلي لمن نيولې ده
ګل پر هر پرهر تکور په زړهٔ پورې نيولے دے

خدايه د حالاتو د بې وخته مرګ د ويرې نه
خپل نياز بين بچوړے مور په زړهٔ پورې نيولے دے

ستا د لېونو په لېونتوب کښې هرو شک نشته
وايه کنه چا پېغور په زړهٔ پورې نيولے دے

خلق به لا اوس د ښائستونو تماشې له ځي
مونږه د پښتوانه اور په زړهٔ پورې نيولے دے

زهٔ دې لېونے کړمه د غرونو نه پناه شومه
تا هغسې کلے کور په زړهٔ پورې نيولے دے

Pukhto-Net

ژوند مې د ارمـان د زړۀ نـه وتــې دې بې زړۀ یمـه
دا مې هسې سـوې سکـور په زړۀ پورې نیولې دې

هسې ورتـه وایم د ګرېوان نه مې لاس اوبـاسـه
دغـه لېونـې مې نور پـه زړۀ پـورې نیولې دې

زړۀ د ځان نه زیاته د شاکرؔ پـه خـوب مئینه یم
مـا چې د بـنګـرو دا شـور په زړۀ پورې نیولې دې

## اظهـــار

راغـې او لاړو هـر کلـې مـو د بهـار اونۀ کړو
د وخـت د لاسه مـو د یو ښکلې دیدار اونۀ کړو

مـونږه په سترګو کښې بلها بلها خبرې اوکړې
مـونـږه په خُله باندې د یو تکی اظهار اونۀ کړو



Pukhto-Net

○

د شـمـاره وتـې دې بې شـماره گرځي
ستا لېونې پـه هـره لاره گـرځي

زمـونږ د کـلـي کار به څنګه ساز شي
د کــار سـړي پکښې بې کــاره گرځي

د زړهٔ خبرې په خپل زړهٔ کښې ساتې
د آئينې غـونـدې هـوښـيـارهٔ گـرځي

د ژرنـدې پـل زمـا پـه وينـه گـرځي
د ژرنـدې پـل د بل دپـاره گـرځي

د خـوشبـو يـانـو مستې لاسپوا شي
چې پـه ګـلـونو کښې سرداره گـرځي

تهٔ په خپل رور پسې ټوپک گـرځوه
د قـام دښـمـن درنـه تورمـاره گرځي

Pukhto.Net

ګلونه مهٔ شوکوه ستړي به شي
دا لېونی د څهٔ دپاره ګرځي

چې د شاکرؔ تپوس ئې نهٔ کولو
اوس په هغهٔ پسې بیماره ګرځي

## دستور

ددنیا دستور چې څنګه زمانه کړي
جانان هغسې تپوس هم زما نهٔ کړي

په یوه خبره شل باني کړي جوړې
د ارمان سره دې خلق یارانه کړي


Pukhto.Net

شکر دے چې ستا د جبین خال شومه
ښــۀ شومه د سیالو سره سیال شومه

زۀ د خپـل قسمت په کرښو پوهه وؤم
مـورې د ماه جبینې پـه وصال شومه

یـو خوا بې پروا ئې بل خوا ښکلے ئې
نـۀ دې د جلال نـۀ د جمال شومـه

یـو د میـنـې نوم راسره پاتې دے
خلـقـه نور د هر څۀ نه کنګال شومه

دواړه د یـوبـل پــه سر مزې کـوو
یـار زما شړے،شوه زۀ ئې شال شومه

زۀ د آهــن گــر د بټې اوسـپــنـه
ټوره شـومـه زغره شومه ډال شومه



Pukhto.Net

ما د یار په سترګو کښې ځان اولیدو
اوس ایله خبر د ځان په حال شومه

ستا د در دُرشل کۀ مې ښکل نۀ کړله
خدائے خبر جانانه که قبال شومه

## حصار

خدایه چې د خپله ځانه لاړمه په زړۀ پسې
اوس به زۀ په کومو سترګو ژاړمه په زړۀ پسې

چرته به تري دلته بله اوکړم کۀ هم دغسې
عمر له به لوښې لرګی نغاړمه په زړۀ پسې

Pukhto.Net

○

سترګې مې غنې غنې کېږي خوب به څنګه راشي
په زړه مې ستا بانه وربېږي خوب به څنګه راشي

زمونږ په کلي باندې داسې سپوږمۍ شوې ده چې
خلق په خوب کښې هم ويرېږي خوب به څنګه راشي

يو ځل په خوب کښې تا په يکه ځله خندلې ځه وو
هغه خندا راته يادېږي خوب به څنګه راشي

ما وې چې زه به ستا په سترګو کښې بلها اوده شم
خو اوس مې تنده نه ماتېږي خوب به څنګه راشي

زه څه خزان نه يم سپرلے يم خو زما په غېږ کښې
هغه د ګل پشان رژېږي خوب به څنګه راشي

د ګورو زلفو په سوړ سيوري ووم يخنۍ اخستے
وجود مې هغه شان رپېږي خوب به څنګه راشي

Pukhto.Net

ستا انتظــار په نـا اشنا مـرض اخته کـړم اشنا
سترګــې مې رپ لـه نهٔ پټېږي خوب به څنګه راشي

شــاکـرهٔ يو طبيب زمـا په مرض پوهـه نهٔ شو
زړهٔ مې په تا پسې خـوږېږي خوب به څنګه راشي

---

## مېـنـه

تـهٔ زمـا پـه زلفو باندې دواړه سترګې اوتړه
زهٔ درتـه پـه غـوږ کښې يوه پټه شـان خبره کوم

زړهٔ او ذهن لوټے کړه په وړو کښې به راځائے نهٔ شي
څـار د کـائـنـات نـه هم غـټه شـان خبره کـوم

Pukhto.Net

په هغه سور سالو باندې نقشونه پاڼې پاڼې
اوس هر څه راته ښکاري سره رنګونه پاڼې پاڼې

د هغې قد قامت به درته دا خبره اوکړم
په ښنوکښې ئې پراته وي چنارونه پاڼې پاڼې

که ته راسره نه ئې خو زه ستا سره وئېږم
په خوا کښې مې پراته وي تصويرونه پاڼې پاڼې

يو ځل دې چرته راشي په دروغه په دې کلي
که مونږه ورته نه کړه دا خپل زړونه پاڼې پاڼې

يو ټکے راته چا وو په يو ټکي باندې کړے
اوس ګرځم پسې ما کړه کتابونه پاڼې پاڼې

بغير د محبت نه که مې بل ټکے ايزده وي
په ما دې راپسې شي قرآنونه پاڼې پاڼې

Pukhto.Net

په هغهٔ کبر ژن باندې به څومره کبر واوړی
په پښو باندې ئې پرېواتهٔ گلونه پانړې پانړې

د ځینو په چوپړی کښې یوه پانړه خشاک نهٔ وی
د ځینو د بنگلو وی دېوالونه پانړې پانړې

شاکره جادوگره دا دې څنگه جادو کړے
چې هر یو ښکلے وائی ستا شعرونه پانړې پانړې

Pukhto.Net

د خپلې مینې کور په دې هیله ودان غواړمه
ستا په لیمو کښې سنه سترګه د ارمان غواړمه

زما په عقل او په فهم باندې څۀ شوی دی
وخت رانه پوزه پرېکوی زۀ ترې پېزوان غواړمه

د رقیبانو غمازانو زړونۀ چوی په دغې
چې ټول جهان سپړلے سپړلے جانان جانان غواړمه

زۀ ستا د زنې او تندی په شنو خالونو باندې
دا خپل زړګے د محبت ښارِ روښان غواړمه

چې د جانان نظر پرې اولګېدو اوخندېدو
اوس خو به خېر ددې ریښې ریښې ګرېوان غواړمه

زمونږ د اوښکو په سیلاب باندې خړوبه نۀ شوه
اوس په دې زمکه سم د سرو وینو باران غواړمه

د محبت د سرې توب، سرې سینې په خاطر
شاکره خرې سترګې حسن ته جهان غواړمه



Pukhto.Net

ماتوي

مات دې کړي خبر دې که هر څه ماتوي
خو هغه شنه بنګړي دې نه ماتوي

زما جانان دومره کم ظرفه نه دې
زما په سر د سرې خُله ماتوي

د ګل په پاڼو په نازکو شونډو
لوطونه څڼګ پاخه پاخه ماتوي

زما د زړه دا نبي ترتيبه درزا
د حسن سحر هره شپه ماتوي

اغيار مې څه هډوکولې نه شي
ما له ملګري حوصله ماتوي

په يو نظر د سرې زړه رغوي
د بل نظر د سرې زړه ماتوي

نن يې يک جام په لاس کښې راوړو راغله
نن په شاکر باندې توبه ماتوي

Pukhto.Net

○

څوک چې زما د خيال خبرې کوي
هغه به ستا د خال خبرې کوي

زړه پرېکوي خو څوک پرې نهٔ پوهېږي
څهٔ په کمال کمال خبرې کوي

جينکو دوئي له پېره مهٔ ورکوئ
دوئي څانګې نهٔ په ټال خبرې کوي

د خپل ښائست د حال نه نهٔ ده خبر
زما د زړهٔ د حال خبرې کوي

په پښتون خوا باندې ئې څُله خورېږي
د مغربي شمال خبرې کوي

لکه د نمر ئې هره ورځ وينمه
لکه اختر په کال خبرې کوي

زما په خوا کښې ئې په خوب کښې اووې
چپ شئ دغې اقبال خبرې کوي



Pukhto.Net

سپر لے ئ شُوکه د سپرلي سپرلي خندا نه اوکړې
ستورې سپوږمۍ ئ غلا د حسن او ښکلا نه اوکړې

په خپله ختيه کښې اخښکلي مينه څنګ پر پړدمه
اوراورکے به تېښته چرته د رنړا نه اوکړې

چې ما د زړۀ جوارې چرته او په چا بائيللي
دغه پوښتنه دې لالېه څوک لتا نه اوکړې

داسې شلېدلے ګرېوان پرځې ته هوا ته پروت ئ
لږه حيا خو ګله چرته څوک د چانه اوکړې

چې مونږه ولې دومره خوار يو؟ آخر څۀ به وايم
کۀ دا تپوس زما بچې چرته زما نه اوکړې

هر يو سړے ددې دنيا سترګو ته نۀ شي کتے
زاهد ته اووايئ چې بده د دنيا نه اوکړې

په محبت کښې د ذرې هومره ګناه نشته دے
کۀ د چا شک وي نو تپوس دې د مُلا نه اوکړې

Pukhto.Net

ځان وژني لېوني ده په رنګونو لولکۍ
ګډېږي په سکروټو په اورونو لولکۍ

دا څوک ده د رنګونو په باران کښې لونده شوې
که ناسته ده په پاڼو د ګلونو لولکۍ

دا څکه دومره مسته دومره شوخه ده یارانو
لامبلې دې بېګا په شرابونو لولکۍ

څۀ درد شوې څۀ نغمې شولې څۀ والوتې څه مړې شوې
زمونږ د قسمتونو ارمانونو لولکۍ

د شونډو د بوسې نه دا د ګوتو بوسه ښۀ ده
رانیسم د جانان د رخسارونو لولکۍ

د هغې لولکۍ پښانې بله چرته نشته
ملګرو مائیدلې په زرګونو لولکۍ

شاکره د سپرلی په ماڅیګر کښې چرته راشه
وړوله جوړوومه په مخونو لولکۍ

Pukhto.Net

ستا د دیدن دروازې پورې ښه دي
زما په زړه لمبې راپورې ښه دي

په رڼا ورځ سپینې جامې اغوندې
په توره شپه باندې دا تورې ښه دي

باران د وینو کله ښه دے
دا ګل درې داسې سمسورې ښه دي

چې پښتانه ژلمي پرې ننګ نه کوي
پښتنې دغسې سرتورې ښه دي

په دغه رنګ کښې مې لیدلې نه وې
جانانه ستا سترګې خو نورې ښه دي

زلفې دې غوړې وې جو غوړې ښه وې
اوس چې دا سپورې دي جو سپورې ښه دي

شاکره ستا د غزلونو مصرعې
ښه دي خو دغسې کمزورې ښه دي



Pukhto.Net

چې پسرلے شي شرابي
ټوله دنيا شي ګلابي

د محبت د حرارت په وجه
زما فطرت دے سيمابي

ستا سو زړګی لکه لختی رغی دی
زمونږه زړونه دريابي

زما د وينو دارو څۀ په کمال
ستا لوپټه کړه شهابي

سرۀ لوپټه منګے او ګل اننګي
څومره مزه کړي عنابي

په بې لوظۍ کښې ترې بې لوظه نشته
کوي خبرې کتابي

شاکره زړۀ مې په سينه کښې رپي
د جانان سترګې عقابي

Pukhto.Net

د زلفو سیورې ئې د حسن ګرمی لا سېوا کړه
د بنګړو شور ئې د ادا خاموشي لا سېوا کړه

هغه چې مونږ د تیارو لارو مشالونه ګڼل
د دې مایوسه سترې قام مایوسي لا سېوا کړه

ستا په رخسار تازۀ تازۀ د وینو سرو خالونو
ستا د ښائست د لېونو خوشحالي لا سېوا کړه

څۀ ښۀ رقیب دے ماله داد او حوصله راکوی
د وخت ناکړدو مې د فکر شوخي لا سېوا کړه

چرته به لرې یو ګل نیم د چا د سترګو شولو
زما آهونو د صحرا ویراني لا سېوا کړه

زۀ چې د یاره سره لږ په خوارۀ خوب پرېوتم
دغې د وخت د مَرَیو بې خوابي لا سېوا کړه

د پُښتنې تېرۀ تېرۀ بانه ګواه دی په دې
چې د شاکرؔ وینو د ګلو سرخي لا سېوا کړه

Pukhto.Net

کــه ډېر چـونـه مـونـه کړو د ښاروونو دېوالونه
یو خسکے مو سپین نهٔ کړهٔ د ذهنونو دېوالونه

جـونګړې خو جونګړې دي یارانو محفوظ نهٔ دي
زمـونـږه د وطـن د مـحـلـونـو دېـوالـونـه

سـبـا بـه راتـه وائي چې سپـيـاکې هم بـلـېږي
سبـا بـه رالـه وران کـړي د کـوروونو دېوالونه

ظـاهـره ده دګـل نـه بـه نـازک اؤ ښـائسته وي
د چـاچـې د کـالـهٔ وي د ګـلـونـو دېـوالـونـه

تـهٔ ګـوره لېـونـی تـه وائې زهٔ خو په امـان يم
د ځــان نـه ئې تـاؤ کـړي د اوروونو دېـوالـونـه

د خـپـلـې نـظـرئې د دېوالونو سر اوچـت کـړه
سـاتي کـهٔ د هـېـواد د سـرحدونو دېوالونه

شاکرهٔ کهٔ ډېر لوئے وي خو په سر ئې لويه لار وي
په شـا دې حـوصـلې نهٔ کړي د غروونو دېوالونه

○

مـــازیگـر او ستا شباب په پسـرلی کښې
زیړ شـړشم اؤ سـور گـلاب په پسرلی کښې

خلـق وائی چې وی تاب په پسـرلـی کښې
زړهٔ زمـا شـولـو بې تـاب په پسـرلـی کښې

مـئینان دې شـی درياب په پسرلی کښې
رقیبـان دې شـی کـریـاب په پسرلی کښې

پـه خـزان کښې بې نشې دومره مستی کړی
چې لا اوخښـی دا شـراب پـه پسـرلی کښې

بېلتانـهٔ دې د مستۍ چلونه زدهٔ کـړهٔ
اوس راځـی خـانـه خـراب پـه پسرلی کښې

سـاقـی راکـړه بې حسـابه شراب راکـړه
خـلق نـهٔ کـوی حسـاب په پسـرلی کښې

Pukhto.Net

مــاوې تــهٔ ئې درنـزدې شــو م خو تـهٔ نـهٔ وې
څــومره ښـکـلـے وی ســراب په پسرلی کښې

ګـل پــرســت يم زمــا دا تـجــربــه وائـی
چـې راځــی بــه انـقـلاب پـه پسـرلی کښې

پـه خزان کښې هم ګودر ښائسته ښائسته وی
خـو خـونـد بـېل وی د جناب په پسرلی کښې

پـه هــر شـعـرکښې ئې د ګلوخـوشبوئی ده
شــاکـرؔ کښلے خپـل کتاب پــه پسرلی کښې



Pukhto.Net

ښکلي د هیچا انتظار نه کوي
زمونږه هسې زړونه وار نه کوي

زړهٔ! د دیدن د وخت اداب ایزده کړه
په دغه وخت کښې څوک تلوار نه کوي

زهٔ د دنیا په هره لار پوهیږم
هغه بې لارې یوه لار نه کوي

ښهٔ په ښکاره د ګل په غېږ کښې ناست وي
بورا د یو ازغي نه خار نه کوي

ما ورته وې خو هغهٔ نهٔ منله
اوس دې لالې د ګوتو شمار نه کوي

چې د شاکرېٔ سادګي خوښه ده
په ناوې توب کښې هم سنګار نه کوي

Pukhto-Net

○

په زړهٔ کښې مې راغلې دے شدّت د محبت
په روح کښې مې خور شوے دے لذّت د محبت

د هـر څـهٔ نـه نازک دے نزاکت د محبت
په هر څهٔ باندې دے طاقت د محبت

ناصحه څان خبر کړه دا د کوم عمل نامې دی
دوزخ د نفـرتونو او جـنـت د محبت

حیران یم چرته زهٔ او چرته دا د جنت حوره
دا څکـه خو مـنـمـه کرامت د محبت

چې کله ستا د غېږې نه راپاڅېدم جانانه
په ما باندې ښکارهٔ شو حقیقت د محبت

کهٔ زر څله زهٔ غوارمه نفرت کولے نهٔ شم
اللّـه راله راکړے دے فـطـرت د محبت

شاکرؔ به درته دلته وی ولاړ په انتظار
کهٔ تا چرته محسوس کړو ضرورت د محبت



Pukhto.Net

د مور د خلې نه چې دعا اوخېژي
ؤرسي عرش ته خامخا اوخېژي

په لېونو پورې خندا مۀ کوه
چرته به ستا نه داخندا اوخېژي

د لوپټې پیڅکې راخور کړه په ما
چې په قلاره رانه سا اوخېژي

اما کما ئې په نظر کښې نۀ وي
منګې چې سر ته د اشنا اوخېژي

چې ستا د مینې په نشه نشه یم
بله نشه به څۀ په ما اوخېژي

کۀ سل خبرې دې دروغ اوخېژي
چرته یوه خو به رښتیا اوخېژي

شاکرہ راشه چې تندے دې ښکل کړم
چې د تندی نه دې رڼا اوخېژي

○

د درد خوشبو مې د پرهر د گل نه اویستله
د ژوند قیصه مې په هنر د گل نه اویستله

لکه د پرخې چې ما توله شپه ژړا اوکړله
یوه خبره مې سحر د گل نه اویستله

ستا بې رخۍ، بې وفایۍ او بې لوظۍ ښکلیه
هره کمځۍ زما په سر د گل نه اویستله

کومې مستۍ چې د ځوانۍ په دې منگې راخستې
هغه مستي ئې په گودر د گل نه اویستله

نۀ تۀ راغلې ئې نۀ راغلې نۀ به راشې چرته
دا کنایه مې د انځر د گل نه اویستله

اول ئې اوچې کړلې اوښکې بیا ئې اور ورته کړو
خدائے خبر څۀ خبره نمر د گل نه اویستله



Pukhto.Net

زۀ خو ترې لرې ووم او دے ئ پہ کمڅو کښې پروت وو
لیونی خپلـه غصـه زر د ګل نه اویستلـه

دے بہ د یار زلفـو تـه کله اخـر کلـه رسـی
شـاکـره سـا دې پـه ډنډر د ګل نه اویستلـه

### تجاهل عارفانه

هغـه وړه ده د وړو سـره نـاکـام پکـار دے
دومـره وړه چـې پـه خبـره بانـدې نـۀ پوهېږی

کلـه نـاکلـه دومـره لویه شی چې ډېره لویه
کلـه نـاکلـه مـې د سترګو نه په زړۀ پوهېږی



Pukhto.Net

○

زما په غم د خوشحالو نکریزې
ښکېښودې لویو او وړو نکریزې

مونږه د مینې په معنیٰ پوهېږو
مونږه کړلې په پټو نکریزې

ستا د ځوانۍ په شرابونو ښکې بیا
دې خوشتې کړې ښا پېرو نکریزې

ما د اختر په شپه هم ښکېنښودې
ستا په وړو وړو چاچو نکریزې

دهغې شپې خوشبو مې نۀ هېرېږي
سمې راوړې وې سپرلو نکریزې

پښتنو تاسو منزل نۀ شئ مونده
تاسو ښکېښودې دی په پښو نکریزې

نن د اقبال شاکرؔ کلیزه کوؤ
راځئ چې کېږدو جینکو نکریزې



Pukhto.Net

○

سحر ترې پرخه څاڅي راته ژاړي ګلابونه
په بکه خُله خندا دې رانه غواړي ګلابونه

بېګا ئې که څه خوب کښې ستا د زلفو بن ليدلے
نن ځان د ګلشنونو نه رانغاړي ګلابونه

سپرليه د غندل ځواني بلا پرې اخلم
د ځان سره لږ راوړه غندل غاړي ګلابونه

د ځان نه د جهان نه د ارمان نه ئې زړه تورکړي
د سترګو اقتباس سپرلي ته ژباړي ګلابونه

شاکرؔ دې خبر په دار کړي چې په زلفو بلخېدلے
خو دغه تماشې له به راغواړي ګلابونه



Pukhto.Net

د خپل احساس سره په جنګ شي سړے
ملک د پښتو دے اخر تنګ شي سړے

لکه چې تُوره میان کښې ډېره کېږدی
داسې په کور دننه زنګ شي سړے

ځان ترې نه هېر وی ته جهان یادوې
چې د بنګړو په شرنګا شرنګ شي سړے

د مینې کور خو زهٔ هغې ته وایم
چې ښځه شمع وی پتنګ شي سړے

ګل دې د زلفو داسې پرېوتلو
لکه ګزار د لوئ ګړنګ شي سړے

اول خوشحال وی په پښتو مئین وی
خو چې واکدار شي نو اورنګ شي سړے

Pukhto.Net

دا د ملنګ عبدالرحمٰن وینا ده
هله بادشاه شي چې ملنګ شي سړے

شاکرؔ د شونډو په لمس داسې مئین
لکه مئین د جام په کړنګ شي سړے

# لېونی

اوس به دې په زلفو باندې دواړه لاسه اوتړم
خومره لېونی،ده لېونے په زولنو ویرئ

ستا د چم واړه ئې ټول په ما پسې راټول کړه نن
کوره رقیبانو ته هاتهیان په ډمامو ویرئ


Pukhto.Net

یو مې د نرګس د ګلو هار غاړې ته واچوه
بل مې لونګین د انتظار غاړې ته واچوه

زړهٔ ښهٔ په اسانه به د یار غېږې ته اورسو
ښهٔ په خوشحالئ رسی د دار غاړې ته واچوه

عشق د ښکلا او د خودۍ سبق راکړے دے
عقل راته وائی چې زنار غاړې ته واچوه

ستا او زما مینه د نظره چرته نهٔ کړی څوک
واخله دا د تورو زلفو تار غاړې ته واچوه

تهٔ دې د رنجو رجړومه اوګنړه تعویذ ئې کړه
بیا ئې د خپل حسن د بیمار غاړې ته واچوه

چا د ښاپیرو د انتظار نه زده کړه اونهٔ کړه
تخم د نظر د ژوند د لار غاړې ته واچوه

دهٔ په خپل ښائست کښې د شاکرؔ زړګے نغښتلے دے
لږ دې دا نظر د لاله زار غاړې ته واچوه



Pukhto.Net

موږ نره مدام کوو د خوند خبرې
د شنو بنګړو د سپین مړوند خبرې

که پښتنو ته خدائے وربادې کړلې
ملالې ستا او د میوند خبرې

اوس په خزان کښې ماته هم یادیږي
د ګل په سر ستا د سوګند خبرې

د زړهٔ دردونه راله نور سپوا کړي
د جانان ګل کاتهٔ او قند خبرې

ماد خبرې په بند پوهه نهٔ کړې
جوړې کړې داسې بند په بند خبرې

په دې حالاتو کښې جانان یادول
دي په اورونو کښې د ژوند خبرې

شاکره ته او زهٔ یو ځائے خښګه شو
خلق کوي ددې پیوند خبرې



Pukhto.Net

۰

دا د هر حـپا د وس خبـره نـهٔ ده
میـنـه د وسپنې نینې چیچل دی

ښکلو د حپا سـره وفا کـړې ده
هسې ښـتـانو تـه سجدې کـول دی

زمونږ په کـور کښې د خوږلو څهٔ دی
زمونږ په برخه باندې شپې خوږل دی

بـادار پـه " ژبه " خپـل لښکر تـه اووې
سبـا لـه نورې گـلـدرې څـنـډل دی

د کـار خبـره حپـا بې کـار تـه کـول
هسـې ړنـدو تـه آئینې نیـول دی

پښتنو ستاسـو پـه سـرونـو بـانـدې
حپـا لـه پیسې حـپـا لـه تمغې گټل دی

مـنـع کـول د مـحبـت نـه شـاکـرؔ
پـه زنـځیـرونـو کښې وږمې تـړل دی



Pukhto.Net

○

د محبت د ګل غوټو د مسکیتوب ورځې دي
دا ورځې شې دي دا زمونږ د لېونتوب ورځې دي

په هره پوله هره لاره کښې بنګړي مات شوي
ګرانه سپرلے دے که راځې د مئینتوب ورځې دي

په هر یو ګام راباندې هر یو سرې پښې کښېښودې
خدایه سرے دې کرم خو دا د سرې توب ورځې دي

زمونږ د کلي لېونو ته چا دروغ وئېلي
د کوه قاف د ښاپېرۍ د ناوې توب ورځې دي

ډېرې نازکې د رېدې د ګل نه هم نازکې
د یو غریب سړي د لور د پېغلتوب ورځې دي

لکه خوشبو به د مئین په زړه کښې پاتې نهٔ شم
په دې کاله کښې مې یو څو د مېلمستوب ورځې دي

چې زړهٔ ور به زړهٔ ور وو هغه ورځې نهٔ دي
شاکرهٔ اوس خو د بې زړهٔ و د زړهٔ ور توب ورځې دي



Pukhto.Net

○

چې ستا د مخ سرخي جانانه ورځ په ورځ زياتېږي
زما د مينې قيمت ګرانه ورځ په ورځ زياتېږي

د انســانـي اقــدارو قــدر ورځ پــه ورځ کمېږي
د زرو قــدر قــــدردانــه ورځ په ورځ زياتېږي

مـا د سـراب څـوانۍ په طمع ژوند تېر کړے
د ديدن تنده مې ارمـانـه ورځ په ورځ زياتېږي

مـا وې ايلـه بـه د انصاف په خوږو پوهـه شمـه
بې انصافي خودې اسمانه ورځ په ورځ زياتېږي

وې مې چې ستا لېونی نن صبا څۀ ګڼ غوندې شو
وی ئې چې دا خو د پخوانه ورځ په ورځ زياتېږي

ستـا پـه پېڅې سـتـا د پېڅې پـه اوبو سـر ورکوؤ
زمونږه لـوږه تنده خانه ورځ په ورځ زياتېږي



Pukhto.Net

دا تجـزیـه کـوؤم چې سـتا او زمـا څـۀ رشتـه ده
زما په زړۀ کښې ویره ستا نه ورځ په ورځ زیاتېږی

د نـظـر اور ئې ســوزول هـغسې ولې نـۀ کـړی
د زړګی سوے مې د خفګانه ورځ په ورځ زیاتېږی

چې د انسـان میـنـه مـې څـنګ د زړۀ نـه اوڅتلـه
شـاکـرۀ کـرکـه مې د ځـانه ورځ په ورځ زیاتېږی

## دوه شــعرونه

شـړنګ ورله لږ ورکړه ستا بنګړو ته به څوک څۀ اووئ
مـونـږ خـو لېـونـی یـو لېـونـو تـه بـه څـوک څـۀ اووئ

دواړه د فـطـرت د اداګـانـو غـمـازی کـوی
ګل لـه بـه څوک څۀ ورکړی ازغو تـه بـه څوک څـۀ اووئ



Pukhto.Net

مالی چې څۀ کوی د ګل دپاره
داسې به څوک اوکړی د بل دپاره

د زړۀ په دشته مې شړشم کرلی
لالیه ستا د سپور اوربل دپاره

زۀ يې عاشق يم معشوقه مې داده
شپې روڼؤمه د غزل دپاره

داسې څوک شته کۀ نۀ خوړو ملګرو
چې ځان سنګار کړی د اجل دپاره

نائك ته وايه مونږ پوره يو کنه
ستا د اشر ستا د غوبل دپاره

د ځان دپاره اوښکې نۀ تويؤو
وينې مو توئې کړلې د بل دپاره

شاکرۀ خدائے دې شاه جهان بادشاه کړه
د خپل ارمان د تاج محل دپاره

Pukhto.Net

○

څوک د جانان سره خبرې کوی
څوک د ارمــان ســره خبرې کوی

زمــا خبـرې ښې خبـرې نهٔ وې
او س دې د ځان سره خبرې کوی

د فرښتو ســره ئې ؤرانـه کړلـه
او د شیطــان ســره خبرې کوی

زمــا د زخـم نـه ئې خُلـه اوختـه
درد د درمــان ســره خبرې کوی

دغــه جـونګړې به سبا ورانؤو
ږلی، طــوفان سره خبرې کوی

بـس یـو زمـا سـره خبرې نهٔ کړی
نـور د جهــان ســره خبرې کوی

شاکرؔ په زمکه باندې پروت لېونے
هغــهٔ اســمــان سره خبرې کوی



Pukhto.Net

هرڅوک ئې د ژوند سرې تودې په سر پرتې دی
بیا هم د پښتنو جګې شملې په سر پرتې دی

د شمعې خو پتنګ په یو نظر باندې پرېوځی
د دې د څه دپاره سرې لمبې په سر پرتې دی

د سترګو تماشې به کېږی دا زمونږه ژوند دے
ارمانه ماته نورې تماشې په سر پرتې دی

دا سترګې دې اشنا لرې پښتو سره اشنا کړه
دا تورې چې پرتې دی دا د دې په سر پرتې دی

د نهٔ کولو دېرې وې ما اوکړلې یارانو
خبرې د کولو مې دوهٔ درې په سر پرتې دی

بقا ته ارتقا د پښتنو په حقله اووې
د دوئ خو لا تر اوسه لوپټې په سر پرتې دی

د فن د شاپېرۍ د تودې غېږې رسېدو له
شاکره تاته دېرې مرحلې په سر پرتې دی



Pukhto.Net

ستا په سنګين خاطر کښې لار ګورې
لېونے زړهٔ مې ماله کار ګورې

د زلفو غوټې ئې را اوسپړدلې
تار تار ګرېوان له پکښې تار ګورې

زهٔ د ګلشن نه بې نوا نهٔ څمه
ګل دې را اوښهٔ ګورې خار ګورې

ساقي په خپله مېخانه کښې ځان له
زما په سترګو کښې خمار ګورې

ښهٔ پرې پوهېږمه چې ستا په سترګو
پسرلی ماته ستا نه ځار ګورې

چې په قسمت کښې ئې زهٔ يمه کهٔ نهٔ
د لاسو کرښې مې نګار ګورې

شاکره زړهٔ دې په نظر کښې ساته
د نظر باز ئې ځان له ښکار ګورې



Pukhto.Net

○

هغسې اور هغسې شور او زور پاګل ؤنهٔ کړو
ستا اداګانو مې په زړهٔ باندې څهٔ چل ؤنهٔ کړو

چې د ارمان ګټلو وخت راغے ټول پا تې راغلو
سره زما هیڅ په خدائے باندې توکل ؤنهٔ کړو

خپلې انا خپلې جونګړې ته کوز سترګے نهٔ کړم
د لوګې مړ شوم خو طواف مې د محل ؤنهٔ کړو

ستا د ښائست د سرې غرمې ګرمی سپرلی لیدلې
د لوپټې د پیڅکی سبورے دې په ګل ؤنهٔ کړو

د مشینی انقلاب دومره اثر بس دے کنه
کلونه اوشو چا په کلی کښې غوبل ؤنهٔ کړو

مور راته وې چې تهٔ به هلته کښې زمانه عاق ئې
کهٔ په پښتو باندې دې هر چرته عمل ؤنهٔ کړو



Pukhto-Net

مونږ مسلسل په هر عمل د یو بل پښې راکاږو
بغېر د دې نه یو عمل چا مسلسل ؤنهٔ کړو

په خله مئین د روایاتو چې په کاڼو ولم
لېونیږنهٔ یمه خو چا راله چارګل ؤنهٔ کړو

سپرلیه زهٔ د چا په سترګو تاته ږېرګورمه
خو تا په سترګو کښې د چا پشانې چل ؤنهٔ کړو

ناڅاپه پاڅېده راتوله شوه غصه شوه وې ئې
شاکرهٔ خوب دې رانه نور په دې څنګل ؤنهٔ کړو

Pukhto.Net

○

د خپل ارمان زړګي چولے شمه
ستا نه خپل ځان راټولولے شمه

دا خلق ښنګه بنیادم اوګڼي
خدائے ګوکۀ زۀ مېږے وژلے شمه

اوس د دنیا په هنر پوهه شومه
اوس خپل غونډورے رغړولے شمه

خپل ارمانونه ما ته ډېر خوارۀ دي
ګني نو هر یو رېژولے شمه

موري اوس زۀ د خېره لویه یمه
اوس خپلې سترګې تورولے شمه

د خپلې پښې نه ازغے نۀ شم ایستے
د بل د زړۀ غشے ایستلے شمه



Pukhto.Net

ایمان مې دومره سلامت پوره دے
چې سنکلو سترګو ته کتلے شمه

د بت په غاړه به دې ناسته یمه
زۀ خو اوس وړې ربړولے شمه

کۀ په شاکرؔ باندې مې لاس نۀ رسي
منګیه تا خو ماتولے شمه

Pukhto.Net

نهٔ په دعا باندې ورانېږي نه تد بیر ورانې کړې
د کانړی کرښې دی زمونږ د قسمتونو کرښې

مونږه اظهار د محبت یو بل ته داسې کړے
مونږه راکښودې دی ورو له په مخونو کرښې

زهٔ به دې هېر یمه اشنا خو تهٔ مې نهٔ هېرېږې
لاورانې نهٔ دی د کودر د چنارونو کرښې

زهٔ چې په چا باندې مئین یم په مانهٔ دے مئین
یو لاس شناس راله کتلې د لاسونو کرښې

هغهٔ په کومو سترګو اوګورې زما سترګو ته
هغې راکښودې دی زما په تصویرونو کرښې

شاکرَه اوس خو شلشلغاتې وارهٔ نهٔ پېژنې
او زهٔ تر اوسه شمارؤم په دېوالونو کرښې



Pukhto.Net

د جانان شــونډې تودې مــزه کــوي
خــو خبرې پرې سرې مــزه کــوي

په سپرلی کښې د ګلونو په شپلونو
خــورې شــوې لــوپټې مــزه کــوي

د چا سترګو ته ئې چرته ښکته نۀ کړې
ستــا دا سترګې پښتــنې مــزه کــوي

وصال څۀ دے په مروند د جانان خوب دے
د هــجـران خــو شــوګیرې مــزه کــوي

زمــا سترګو کښې د وینو ړنډ ته ګوره
ستاپــه مخ بــاندې خولې مزه کــوي

دعــا ګــانې مې د مور او پلار پوره دي
د خــوبــانــو خــو ښــېرې مــزه کــوي

د ګــلــونــو او د زلــفــو قیـصــه دا ده
چې پــه غــرونــو کښې لمبې مزه کــوي

Pukhto.Net

ماځيګر کښې خو د سنکلو ديدن عام وی
ديدنو نه د غرمې مزه کوی

تسلسل ئې د ريا چرته مات نهٔ شی
د مُلا سره تسپې مزه کوی

په پيری کښې به ترې چرته توبه ګار شم
په ځوانی کښې سترګې سرې مزه کوی

ستا مروند مې په بل چا باندې سود نهٔ دے
ګنې ستا سره ګجرې مزه کوی

کانړی ونې بوټی هر څنګه مزه کړی
د انسان سره جامې مزه کوی

شاکرؔ هسې د غزل لمن نيولې
په پښتو کښې خو ټپې مزه کوی

Pukhto.Net

زړهٔ مې خوږېږي د زړه غم مې دوران هم نهٔ کوي
خدايه زما سره خبرې جانان هم نهٔ کوي

کهٔ څهٔ نکريزې دنداسه او رانجهٔ قحط شو دلته
زما لالے زما د قتل سامان هم نهٔ کوي

په مشرقي تهذيب ئې داسې بندېز اولګوو
چې څوک به ناوې له چارګل او پېزوان هم نهٔ کوي

د خلقو سوچ د ماديت په ژرنده داسې دل شو
چرته شپونکے د غرهٔ په سر يا قربان هم نهٔ کوي

اوس ددې کلي هر دکان د شنې شينو نه ډک دے
اوس هغه ضد هغه ژړا ماشومان هم نهٔ کوي

کومې خبرې چې پښتونه ستا په کور کښې کېږي
داسې خبرې خو د سر دشمنان هم نهٔ کوي

اوس راروان دے رانزدې دے انقلاب د مينې
اوس دې شاکرؔ د يوې خبرې ارمان هم نهٔ کوي

Pukhto.Net

دغه برخه ازلي د آئينې ده
چُپه خُله نا قلاري د آئينې ده

خپلې سترګې دې بل چاته ښکاره نۀ کړې
يا اودۀ يې يا سيالي د آئينې ده

ټول ښائسته ورته خورې زلفې ولاړ وي
خوش بختي کۀ خوش بختي د آئينې ده

ستا د سترګو په خبرو ماته نۀ شوه
دا لا څنګه خاموشي د آئينې ده

د خپل ذات د دائرې نه وتے نۀ شي
خوښه کړې يې ياري د آئينې ده

خاندي ژاړي د زړګي پشان ماتېږي
مشهوره بې حسي د آئينې ده

Pukhto.Net

تا ته ګورى تا ته هېڅ وئيلے نۀ شى
ډېره ګرانه زندګى د آئينې ده

ستا خبرې کوى تا ته زما مـاته
په شاکرؔ کښې داخوبى د آئينې ده

# خود فـريبى

د مخ غـارمـۀ ئې دى تاودۀ د زلفو سبورے يخ دے
زۀ د دې سېورى او غرمو په پېوند خوب کوُمه

زمانه بل څوک خوش قسمته په دنيا کښې نشته
چې هره شپه د خپل ارمان په مړوند خوب کوُمه

Pukhto.Net

سپــرلیــه تــهٔ رانغلې ښکلا ګـانې چـرته لاړې
زمــونــږه د سپـېـر خُـلـو دعــا ګـانې چـرتـه لاړې

د وو او نــا خبـره وه نـور هېڅ په دې کښې نهٔ وو
نــاڅــاپــه دې د سـترګو رنــا ګـانې چـرتـه لاړې

زمـــونـــږه د حـجـرو د مېلسـونـو دور تېر شـو
زمونږ په ګـودرونـو خـندا ګـانې چـرتـه لاړې

ګـلـونـه پـانې پـانې شـو ګلشن تـالـهٔ ترغـهٔ دے
په ځان بـانـدې مئینې خوشبویانې چرته لاړې

د ژونـد سـره ئې هسـې نهٔ اشـنـا نـهٔ نـا اشنا کړم
د ښـکـلـو ښـکـلې ادا ګـانې چـرتـه لاړې

د زلـفـو خـوشبـويي او زولنو ته ټينګې نهٔ شوې
شـــاکــرَه لـېـونـی شوې هوا ګـانې چـرتـه لاړې



Pukhto.Net

داچې ټيکونه ،تعويزونه ، امېلونه وينې
داکالی نهٔ دی دا په ما پورې اورونه وينې

ددغې ټولو خلاصه د جانان دوه سترګې دی
په دې دنياکښې چې داڅومره کتابونه وينې

تاخو زما د سترګو خيال هېڅ ساتلے نهٔ دے
په کوموسترګوباندې اوس زما خوبونه وينې

خدايه د خلقو د ګمان سره مونږ څهٔ چل اوکړو
څومره يقين دے پکښې تهٔ زمونږه زړونه وينې

ددې ژړا انګولا دومره څهٔ اثر خو به وو
چې په خوبونوکښې وريځې بارانونه وينې

زهٔ تا د خلقو نه په زړهٔ کښې پټ ساتلے يمه
زهٔ دې په سترګوکښې ساتمه تصويرونه وينې

شاکرهٔ ستا ياران خو ټول تاله ترغه شو لاړه
اوس به په خوب کښې د يارانو محفلونه وينې



Pukhto.Net

یمه کوز سترګې د ارمان سترګو ته نهٔ شم کتے
زړګیه ځکه د جانان سترګو ته نهٔ شم کتے

چې ته ئې را اوګورې زما نه وار و پار خطا شي
لکه خسنې د طوفان سترګو نهٔ شم کتے

زهٔ په تدبیر باندې دا خپل سپېره تقدیر بدلوؤم
په زمکه ناست یم د اسمان سترګو ته نهٔ شم کتے

په کومه ورځ چې په آئین کښې ځان ته اوګورمه
په هغه ورځ دې په ایمان سترګو ته نهٔ شم کتے

ما د خپل دور شاه دوران ته هم اوچت کتلی
دور مې نهٔ دے د دوران سترګو ته نهٔ شم کتے

زهٔ به ټول عمر له نظر او زړهٔ په تا بایئلمه
لالیه نور دې په تاوان سترګو ته نهٔ شم کتے

شاکره څومره احترام زما په سترګو کښې دے
درد یم خو زهٔ د خپل درمان سترګو ته نهٔ شم کتے



Pukhto.Net

د سرو ګلونو په ارمان ورېږي
پرخه په خوشی بیابان ورېږي

تندے ئ خاندی په لېمو کښې ژاړي
په شين اسمان باندې باران ورېږي

نن مې د روح نه خوشبوئي راخيژي
نن مې په زړۀ باندې جانان ورېږي

پلوۀ چې واړوي د مخه اشنا
رنګ او رڼا په ټول جهان ورېږي

ږدی قدمونه چې په ناز مې جانان
د واورې پوسی دغه شان ورېږي

Pukhto.Net

○

زړهٔ مې خوږېږي څۀ بې سوره شپه ده
ډېره بې ټنګـه بې ټکوره شپـه ده

د مـحبـت د زړهٔ نـه شك اوبـا سـو
زهٔ درتـه ګـورم تـهٔ راګـوره شپه ده

نظـر مې برېښي د جمال د احساس
د تورو سترګو په شان توره شپه ده

د تـورو زلـفـو پـه تيـارهٔ ورغلـه
نظـر يې نـهٔ لګـي شمکوره شپـه ده

يو ځل به مرګ د لـوږې تندې نه وي
لېـونۍ مـهٔ اوځـه د کـوره شـپـه ده

خـلـق يې ټـول لـکـه واړهٔ اودهٔ کـړه
ګوره په جام باندې نسکوره شپه ده

شـاکـرّه پـام کـوه غـلـط پرې نـهٔ شې
هسـې رڼـا رڼـا ده نوره شـپـه ده



Pukhto.Net

○

څومره چې اوتره ده
هومره زړۀ وره ده

څومره چې خبر يمه
دومره ناخبره ده

زۀ او ستا نه څنګ کول
داګرانه خبره ده

خدائے خبر په څۀ باندې
تېره مې د سره ده

دومره ښائسته نۀ ده
هسې ځان ته غره ده

زۀ زورور نۀ يمه
مينه زوروره ده

Pukhto-Net

زړونه وړی په سترګو کښې
ســـمـــه جــادوګـــره ده

دا د خــولې څـاڅکے دے؟
داخـــو مـــلـــغـــلـــره ده

اووایئ شـــاکـرﷺ ته چې
ســـتـــا ښـــه مـــروره ده

Pukhto.Net

تۀ مې کمځې او ځښې شماره ماله خوب راغلے
زۀ اودۀ کېږمه دلداره ماله خوب راغلے

ماله به خوب راتلو کۀ تۀ چرته په خوب کښې راشې
خدائے خبر نن د څۀ دپاره ماله خوب راغلے

هغۀ بې لوظه کۀ راتللے نو راغلے به وو
څه چې اودۀ شو انتظاره ماله خوب راغلے

دغې خبرې به دې خوب زمانه او تښتوؤ
تا چې به ماته وې چې یاره ماله خوب راغلے

د خپل منزل نه ناخبره د پښتون فطرت یم
د خپل عظمت په نیمه لاره ماله خوب راغلے

زما ارمان زما په سترګو باندې پوئے شو وې ئې
شاکره کښېنه په قلاره ماله خوب راغلے

Pukhto.Net

ژوند ته وئېلے دے اہل خلقو اکثر په غاړه
ما ګرځولے دے تول عمر دغه غور په غاړه

زۀ ستا په غېږ کښې هم ستا سترګو ته کتلے نۀ شم
تېرے ولاړ یم د ارمان د سمندر په غاړه

ما د اوګی سپکلا لیدلې وه خو دومره نۀ وه
لکه سپوږمی ده اویزانده د دلبر په غاړه

ستا د رخسار د پلوشو رڼا ته څۀ اووایم
د رڼا ګانو امیلونه دی د نمر په غاړه

چې د قیامت پورې څوک لوبې د بتانو کوی
د دې ګناه ازار به تول وی د اذر په غاړه؟

هغه زما د محبت اظهار څۀ داسې کوی
هغې جوړ کړے دے زما د زړۀ پرهر په غاړه

Pukhto.Net

د ژوند د هر دور د سر مسئله لوږه تنده
د غريبۍ زنار د خلقو وی اکثر په غاړه

دا به د تول کلي په ځان باندې احسان اومنم
که زۀ ئې ښخ کړمه شاکرؔ د بر گودر په غاړه

---

# فطرت

وېم چې د ارمان سترګې پرې اووينځم رڼې شي
پرخه مې راوړې د ګلاب په کټورې کښې

لاس ئې په نکريزو سرۀ ، لپه د اوبو ډکه
راځې کړه نن ماله سرۀ شراب په کټورې کښې



Pukhto.Net

○

مـا اورېـدلـې دی بـلـهـا خـبـرې
مـا اورېـدلـې نـهٔ دی دا خـبـرې

خدایه چې بیا مې څهٔ خطا کړې ده
راسـره نـهٔ کـوی رسـا خـبـرې

زمـا یـاران دې کـوی مـاتـه مـدام
د ائـیـنـې غـونـدې صـفـا خـبـرې

خدایه د دې عذابه مونږه خلاص کړې
مـونـږ بـه تـرڅـو کـوو پـه غـلا خـبـرې

زمـا اشـنـا زمـانـه نـهٔ هـېـرېـږی
هـغـه پـه شـاتـلهٔ پـه خـنـدا خـبـرې

شـاکـرّه شـکـر دے د کـلـی جُـونـه
کـوی پـه خـپـلـو کـښې زمـا خـبـرې



Pukhto.Net

چې په تنه پورې دې سر پاتې دے
لالیه ستا نه هر سنګر پاتې دے

دلته کښې هر څوک د لستونې مار دے
دلته په چا باندې باور پاتې دے

زما ملګرو نا امیده نهٔ شئ
د سُور څادر سپورے په غر پاتې دے

چې د مئین نه مې وطن پاتې شو
زما نه هم سېل د ګودر پاتې دے

لا د احساس ورشو زرخېزه نهٔ ده
لا د شعور د ګلوکر پاتې دے

د نیمې شپې خوبونه چا کړې دی
خو به اودهٔ به شو سحر پاتې دے

Pukhto.Net

بورا ته اووایه ته چرته لاړې
د ګل په شونډو کښې اثر پاتې دے

تا پسې اوس پښتو ککوړی رغړئ[۱]
شاکره تا ته لوئے سفر پاتې دے

## دروغ رښتیا

رنګ ته زمانه ګوری چې څنګه دے
وائی چې زۀ ستا په زړه کښې اوسمه

سترګې ئې د نمر پشان رڼا کوی
زۀ ئې په رښتیا په زړه کښې اوسمه

Pukhto.Net

۱ رغړوی

پــه زنځيرونو، زولنو، هتکـړونۀ ماتېږي
د لېـونـو حـوصلې يـه لېونو نــۀ ماتېږي

چې پښـه پرې اوُوهم جانان به سترګې اوغړوي
زمــانـظرد سپېلنو پـه لوګو نۀ مــاتېږي

خـدايـه بـاران د مـحبت شېبې شېبې غوا ړمـه
د ګـلـوتنده د شبنم پـه قطـرو نۀ مـاتېږي

ډېره بې ذوقه ده بې حسه ده بې خلې بې زړۀ ده
چې آئينـه دې د جـمــال پـه ليدو نۀ مـاتېږي

دومره کـچـه پښتو چې تشـه پـه کتو ماتېږي
ګـرانـه را اوګـوره پښتو پـه کتو نۀ مـاتېږي

زۀ بـه مسکے نۀ ووم او تۀ بـه د خندا نـه شنه وې
اوس دې غـرور پــه ژړاګـانو سلګو نۀ ماتېږي

شاکرّه نن ئې بانـه مړاوي دي ځۀ چل شوے دے
د زړۀ تنـهـا کـې مــې پـه پسو ازغو نــۀ مـاتېږي



Pukhto.Net

زړګي که لږ راټول شي د پاګل د ګل په پاڼو
جانانه چې راخور نۀ کړې اوربل د ګل په پاڼو

سپرلیه د خزان په ماځیګر کښې چرته راشه
جانان راسره کړې دی لیکل د ګل په پاڼو

حسینې نظارې به بیا زما لارې ته ګورې
حسینې ګلالۍ کۀ کړمه ښکل د ګل په پاڼو

هیڅ شک په دې کښې نشته چې سپرلے زما قاتل دے
سرې وینې مې پرتې دی د ګوګل د ګل په پاڼو

ناڅاپه تکې زېړې شي رپېږي راغورزېږي
زمونږ په چم کښې شوے دے څۀ چل د ګل په پاڼو

همزولې رانه تاؤ شوې زما مینې ته پسخېږي
شاکرؔ راته لیکلے دے غزل د ګل په پاڼو

Pukhto.Net

○

شړنګ د بنګړو دې ګلې شور نهٔ شي
مينه زمونږ چرته پېغور نهٔ شي

څـم چـرتـه لـرې د وفـا کـلـی تـه
زمـا پـه دې کـلـی کـښې کور نهٔ شي

د سترګو تور د يار د حسن په اور
څـنګـه بـه سـوی لکه سکور نهٔ شي

کـهٔ زړه دې نهٔ وی بيا به نهٔ راځمه
خـانـه د زړهٔ کـلـی پـه زور نهٔ شي

پښـتـنـو دا مـو د عـظـمـت نښـه ده
سـر د پښـتو درنـه سـرتور نهٔ شي

پـه هـغهٔ حسن باندې اور پورې شه
چـې د زخـمـی زړګـی تـکور نـهٔ شي

د بېلتانهٔ اورونه هر ځائے بل دی
شـاکـرَه سـتا مـيـنـې تـه اور نـهٔ شي



Pukhto.Net

په مونږه هسې خولې ماتې نهٔ کړې
جانانه کړې وعدې ماتې نهٔ کړې

اوس د سرو شونډو زور منې اوکهٔ نهٔ
شېښه په تا ئې توبې ماتې نهٔ کړې؟

روغ به په خپله لېونی یادوی
یو لېونی ورله خلې ماتې نهٔ کړې

په ما دې خپله پښتو ماته کړله
تا د رواج زولنې ماتې نهٔ کړې

ستا د دیدن د روژه ماتی په نوم
خلقو نیولې روژې ماتې نهٔ کړې

شاکره ستا نهٔ شومه څکه چې تا
په تلو راتلو باندې خپې ماتې نهٔ کړې

Pukhto.Net

د شفقونو تماشې ته ماځیګر ولاړ دے
په سور سالو کښې د زړهٔ سرد بام په سر ولاړ دے

ستا په رخسار باندې خو یو څاڅکے خوله درنه ده
زما په سترګو کښې د اوښکو سمندر ولاړ دے

خدایه چې څوک یې د شین خال نقطه نظره نهٔ کړی
د ټول جهان په دې یوه نقطه نظر ولاړ دے

ستا د خائست رنګونه وړی د محبت سپرلی له
سترګې راپورته کړه په سر درته سحر ولاړ دے

زما د چانه سترګه نهٔ سوزی په ټول جهان کښې
زما په شا باندې د یار د حسن غر ولاړ دے

وې یې چې دا ګل شی نو زهٔ به خامخا راځمه
اوس یې ساتم زمونږ چنې ته یو انځر ولاړ دے

دا ښکره ور خلق مغروره زورور په دې دی
وائی چې دا جهان شاکره په یو ښکر ولاړ دے

Pukhto.Net

زۀ په دې سترګـو باندې ګورم د جانان سترګو ته
زۀ په دې سترګـو د هر چا سترګـو ته نۀ ګورمه

د ټول جهـان دپـاره ګـورمـه رڼا پـه دې کښې
زۀ د خپـل ځـان دپاره ستا سترګـو ته نۀ ګورمه

تۀ خو يو ځل چرته را اوګوره بـيـا مه راګـــوره
زۀ به ټول عمر د بل چا سترګــو ته نـۀ ګـورمه

اوس کـۀ مې يو ځـلې د زړۀ نـه سـترګـې اووتلې
بيـا مې توبـه ده زۀ بـه بيا سترګـو ته نۀ ګورمه

مـا د فـطـرت او د ښکـلا نـه لاس نيوه کـړې ده
زۀ پـه هـر کــار کښې د مـلا سترګـو ته نۀ ګورمه

شـاکـرّه ســترګـې تورۇومه نن په سترګو کښې ستا
نور دې د خـلـقـونـه پـه غـلا سترګـو ته نۀ ګورمه

Pukhto.Net

د بت کدې مېکدې ور بېړته دے
خېږدے ورځه د توبې ور بېړته دے

اوس راته څۀ له وے چې څۀ له راغلې
تا راته وې کۀ راځې ور بېړته دے

مونږ پښتانۀ يو مونږ تنګ زړی نۀ يو
راځه راځه د حجرې ور بېړته دے

زۀ خو څۀ دومره هم بدرنګې نۀ يم
تۀ چرته ګرځې د شپې وربېړته دے

راځئ چې اوګورو چې څۀ دی پکښې
د محبت د کعبې وربېړته دے

کلے به تول په خوشبويۍ خبر شي
بيا دې په لاس کړې ګجرې وربېړته دے

شاکره سترګې هسې مۀ پټوه
زما د زړۀ د کوټې وربېړته دے



Pukhto.Net

چې مئين ورته محتاج شو
رېبار هم نازک مزاج شو

چې په مينه باندې پوۍ شوم
د جانان خوئې د سامراج شو

په دې کلی کښې يارانو
محبت رسم رواج شو

د ګل چينو ګل دشمنو
په ګلونو باندې راج شو

په خپل کور کښې خپل پټې کښې
زمونږ هر يو شے په بياج شو

د خوشحال بابا په توره
د مغلو تخت تاراج شو

سر مې سر شو تاج مې تاج شو
چې شاکرؔ زما سرتاج شو

Pukhto.Net

○

ستا د ښائست د چم نه ډېره سرگردانه لاړه
د ارمانونو قافله ستړې ستومانه لاړه

د لوپټې پیڅکے په خُله کښې او نظر په زمکه
هغه په خپلو کړو پخپله شوه پښېمانه لاړه

یو بېوپاری بل بېوپاری ته وې د خېره سره
د پښتنو وینه د هر څهٔ نه ارزانه لاړه

زهٔ د وزرو پرېکولو په چل نهٔ پوهېږم
په لاس راغلې مرغۍ،والوته زما نه لاړه

ملگرو ما ورته تغمې تغمې زړگے ښکارهٔ کړو
هغه د لښتې پشان شاته د خندا نه لاړه

زهٔ او جانان چې یو تربله ورتر غاړه وتو
یوه شغله غوندې له زمکې تر اسمانه لاړه

شاکرؔه ستا د زړهٔ زخمونه به نور هم تازه شي
گلونه خاندي په دې لار گلِ خندانه لاړه



Pukhto.Net

چې ستا د سترګو نه شُغله پورته شوه
يوه نرۍ څرېکه مې د زړۀ پورته شوه

قد ئې زما د قد په قدر زيات شو
ما ته راښکته شوله ښۀ پورته شوه

چې په محفل د رقيبانو راشم
تۀ به وے اوس ترې جنازه پورته شوه

چې د جانان قيصه ئې خُلې له راغله
د ګل د شونډو نه لمبه پورته شوه

د غرۀ د سره حپا تپه اونۀ کړه
د زړۀ د سره مې تپه پورته شوه

ښکلې خوده د خدائے نه نور څۀ غواړې
چې لېونې په نيمه شپه پورته شوه

Pukhto.Net

کـه مئین نـه وی رانـزدې ئې نـه کړې
د تورو خاوړو ــه نـعره پورته شوه

چې د رواج خـلاف هـغـه پورته شوه
شـاکـره ستا ښـکـته شمله پورته شوه

## قطع تعـــلق

اشـنـا دې راته اووې د زړه غلا دې راتـه اووې
دا خـه په توقو توقو کښې رښتیا دې راته اووې

نن خیر دے که دې راوستـم ارمانه دې کوځې ته
خو زړه به درله اوچووم که بیا دې راته اووې

Pukhto.Net

په هر طرف کۀ لاړه رواجونوکۀ هر څۀ شوه
ایله دچم ګاوندېد پېغورونو نه دمه شوه

چې ما اوتا په سترګوکښې دیوبل سره اوکړۀ
بیا څنګه دا خبره په ټول کلي کښې خوره شوه

زلمو پګړې تړلې پېغلو زلفې خورې کړې
سپرلیه ستا راتله په دې وطن باندې قیصه شوه

فطرت د ښکلا ګانو رڼا ګانو ته هېڅ نۀ دے
د سترګو پلوشو ته دې د نمر سترګه ړنده شوه

زۀ درد ووم تۀ پرهر وې دواړه یو وو دواړه یو شو
پرهر ترې سترګې پټې کړې د درد ټبه سړه شوه

د مینې حرارت د کائنات د زړۀ ټکور دے
بېګا د څلې شپه زما په غېږه کښې توده شوه

Pukhto.Net

مــنګـی ئې دوه په سر وو ما وې يو در سره يوسم
په دې خبره هم د مرچکی پشانې سرۀ شوه

چا اووې ليونے لاړو د غرونو نه پنا شو
زمونږه په ګاونډ کښې د ګنجي طمع خوره شوه

ما وې مينه پرېږدمه کۀ دا زړۀ مې لږ قلار شي
څخو بے خولاسۀ وو د ناوې لاندې مې شپه شوه

شاکرۀ سنبالښت دې سم د ناوې سنبالښت دے
همزولې رانه لاړلې په ما باندې غرمه شوه

Pukhto.Net

زلفې ئې داسې د رخسار چاپېره
لکه چې شپول وی د ګلزار چاپېره

خلق د ښار په خوارۀ خوب اودۀ دے
اور لګېدلے په ټول ښار چاپېره

سره ترخو به دې په سر ساتمه
دے د سرونو کاروبار چاپېره

ستا په راتلو باندې فطرت ښادۀ شی
ګلونه خاندی ستا نه چار چاپېره

ساقی مستی زمونږ په برخه کښې ده
سپرلی شیندلے دے خمار چاپېره

د محبت د لېونو شاکرؔه
دی ګرېوانونه تار په تار چاپېره

Pukhto-Net

○

چې سترګې مې پټېږي لېونۍ په خوب کښې وینم
د خپلو ارمـانونو سـرۀ ډولۍ په خوب کښې وینم

جونګـړو ته دې خـبر وي مـحلونه خو پاخۀ وي
باران په خـوب کښې وینمه سیلۍ په خوب کښې وینم

دا ځـا وې چـې زمونږ په قسمتونو کښې تیاره ده
دا ځۀ چې هـره شپه سپینه سپوږمۍ په خوب کښې وینم

چـې چـرتـه مـاځیګـر کښې د ګودر په طرف راشم
بیـا ټولـه شپـه د کـلي جینکۍ په خوب کښې وینم

هـم هـغـه پټ پټونې شـلشـلغـاتي دی شـاکـره
هـم هـغـه د یو بل سـره مستۍ په خوب کښې وینم



Pukhto.Net

حوضِ کوثر ته ودرېدلے خلق
د محبت تندې سېزلے خلق

ګلِ نرګس په انتظار مړاوی شو
بېرته راغلے نهٔ دے تلے خلق

اوس خو به خامخا منزل ته رسی
د زړهٔ په غږ راپاڅېدلے خلق

د رڼا ګانو په غونډۍ ولاړ ئ
خو په تیاره کښې دې سا تلے خلق

چرته د وېرې نه دی مړنهٔ کړی څوک
تا خو د وېرې نه وژلے خلق

نرۍ هوا ته د حالاتو د زور
د ټینګې نهٔ دے بېخ ختلے خلق

Pukhto.Net

ستا د ديدن د يو نظر په ارمان
د لرې لرې نه راغلے خلق

شاکره ستا پسې به خلق ژاړی
ستا په هر شعر کښې ژړولے خلق

## نظرماتے

رانښې کۀ د نظره وی نظر پرې ماتول وی
نائينې نظر پانه بې حساب ورته لوګے کړه

کۀ هسې د ځوانۍ د زوره نۀ پاڅی اوږدۀ وی
په زلفو کښې اوچ شوے يو ګلاب ورته لوګے کړه



Pukhto.Net

ملګرو څۀ چل شوے وو په ما د يار په غېږکښې
څۀ بل شان ويرېدمه زۀ بېګا د يار په غېږکښې

دا سر مې دې قلم کړی زۀ به اف قدرې اونۀ کړم
خوماله دې څوک راکړی دا سزا د يار په غېږکښې

خوبونه ، خندا ګانې ، بهارونه ، رڼا ګانې
قدرت راغونده کړې ده ښکلا د يار په غېږکښې

ددې منطق په رد کښې څوک يوه حواله راوړئ
چې زړونه خوشحالېږی خامخا د يار په غېږکښې

سبۀ اووايم چې اورسم بې غمه به اودۀ شم
خو سترګه پټه نۀ کړمه زۀ بيا د يار په غېږکښې

قبلېږی به رارسی به ايمان زما په خُدائے دے
د خُدائے نه مې غوښتلې ده دعا د يار په غېږکښې



Pukhto.Net

د ډېرو حادثاتو مشکلاتو نه راتېر شوې
ارمانه څنګه غلے شوې رسا د يار په غېږ کښې

زړګيه ته مئين يې خو بس دومره پښتو اوکړه
چې سترګې غړو لے شم سبا د يار په غېږ کښې

په زلفو کښې يې پټ کړمه په غوږ کښې راته وائې
شاکره خلق نۀ کوې سودا د يار په غېږ کښې

Pukhto-Net

○

څرېکې د يو زړګی پرهر نهٔ کوی
چې څښه سترګه ښېوه ګر نهٔ کوی

چې څوک د مينې په معنیٰ پوهېږی
هغه پروا د مال و سر نهٔ کوی

خدائے خبر ولې اوس بچو ته مياندې
قيصې د جنګ او د سنګر نهٔ کوی

د چا د سر دښمن په خوا کښې ناست وی
د چا پوښتنه د زړهٔ سر نهٔ کوی

زما په زړهٔ د زلفو سپورے شوے
يوه خبره پرې اثر نهٔ کوی

چې پښتانهٔ حجرې حجرې نهٔ کوی
پښتنې هم ګودر ګودر نهٔ کوی

کرل رېبل شاکره خان له کوه
اوس څوک غوبلې او اشر نهٔ کوی

Pukhto.Net

د ارمانونو په کالهٔ کښې تمنّا ناوې شوه
زړګیه خانده خوشحالېږه دغه ستا ناوې شوه

هغهٔ ساعت هغهٔ لذّت زما نه نهٔ هېرېږي
چې شال دې پورته کړو له مخه په خندا ناوې شوه

هر څهٔ بهٔ ډېر وو خو د ژوند خواږهٔ په هېڅ کښې نهٔ وو
ستا په سنګار باندې سپرلے شولو دنیا ناوې شوه

لکه ګنجې ئې یقین نهٔ وو چې به ناوې شمه
لکه ګوډې په ټوقو ټوقو کښې رښتیا ناوې شوه

هغې خو وې چې زهٔ مئینه په شاکرؔ باندې یم
هغې دروغ وې هغه څومره په رضا ناوې شوه

ګردونه کښې مې پرېوځى د خيال په آئينه
جانان به ئې رڼه کړى د جمال په آئينه

زما د وطن ناوې داسې خړه سپېره ښه ئې
خو ځان چرته سنګار نه کړې د سوال په آئينه

زما د زړه د زخم څه تپوس کوې جانانه
يو داغ دے لګېدلے لکه خال په آئينه

پلو د سترګو واړوه چې څنګه پکښې ښکارم
ترڅو به غورېدلے وى دا شال په آئينه

د سترګو د توروالى پلوشې دې زرغونې شوې
رنګونو سم جوړ کړے دے ګوښمال په آئينه

د ښکلى دا عمل ردِ عمل د آئينې دے
د ښکلى پېرزو نه دے خپل وصال په آئينه

چې څوک ورته ور ګورى دنيا ټوله خړه ښکارى
آهونه لګېدلى د اقبال په آئينه

Pukhto.Net

ستا په اوږو باندې زلفان پراتۀ دي
خومره خوارۀ وارۀ ياران پراتۀ دي

چې د سپرلي رنګونه ټول راټول شي
په يوه خندا کښې د جانان پراتۀ دي

زۀ د غل مور يم په کندو کښې ژاړم
چې ګېر چاپېره رقيبان پراتۀ دي

تۀ د ښائست په تاج محل کښې اوسه
ستا لېونې په بيابان پراتۀ دي

خدايه لا ستا په دې ودانه دنيا
زمونږ د زړۀ کورونه وران پراتۀ دي

اوس د ګودر په غاړه سرۀ ګلونه
د سرو منګولو په ارمان پراتۀ دي

شاکره تا ته مينه توقه ښکاري
زما په زړۀ زمکه اسمان پراتۀ دي



Pukhto.Net

د ژوند مزې به درله څهٔ درکړی؟ مجبوره جانان
زما په هر حالت کښې خوښ دے ښهٔ مغروره جانان

چې د ټول کلی نه چاپېره رقیبان پراتهٔ دی
د بېلتانهٔ نه به خلاصېږی اوس په توره جانان

زهٔ ې د حسن د حصارنه اخر څنګه اوځم
کړه آئینه په خپلو سترګو کښې محصوره جانان

ټوله دنیا په یوه خُله د جانان ذکر کوی
خلق ویستلے دے دیو بل د مذکوره جانان

یا په دې پوهه شو چې وار مې د ځوانئ تېرېږی
یا خبر شوے دے د مینې د دستوره جانان

د رښاګانو سر چشمه د محبت ابتداء
خدائے پېدا کړے دے رښتیا د خپله نوره جانان

شاکرهٔ څکه خنداګانې خوشحالیانې کوُوم
چې عبارت دے د خندا او د سروره جانان

Pukhto.Net

ماۍ د غشو د بڼو نه هډو څنګ ؤنۀ کړو
حېران په دې يمه چې دا مې ترې نه څنګ ؤنۀ کړو

داسې سنګار يې لکه ته ؤ چې روغ رمټ سړے ؤ
څنګ لېونے ؤ زولنو دې هډو شرنګ ؤنۀ کړو

مونږ د تيکونو په ارمان ددۀ په غاړه ناست يو
کلونه اوشو اباسين چرته غورځنګ ؤنۀ کړو

غليم دې هر څۀ هرڅۀ وائي ګنه مونږ کړي ده
چې هغۀ جنګ غوښتو او مونږ ورسره جنګ ؤنۀ کړو

يو زۀ بدنام يم چې خبرې د جانان کوومه
ګڼي نو کوم يو سړي ذکر د ګل رنګ ؤنۀ کړو

هغۀ چې ځان ته ؤ سرخېل د ننګيالو وئيلو
د ننګ په وخت کښې ؤ په ځان باندې هم ننګ ؤنۀ کړو

زمالګرو د رقيب د مجلس رنګ وانۀ خست
شاکره زر دی په دېران کښې ؤ هم زنګ ؤنۀ کړو

Pukhto.Net

چې د خپل زړۀ د کوره اووتمه
ستا د نظر د زوره اووتمه

زما په ذات کښې هنګامه جوړه ده
زۀ د محفل د شوره اووتمه

لکه سپګې د اووۀ ژرندو نه زۀ
په محبت کښې ګوره اووتمه

ما به په غاړه پښتنه څانګوی
زۀ لکه زر د اوره اووتمه

سر د رواج په جغ کښې نۀ شمه وړے
ستا د روري نه روره اووتمه

شاکر زما په سر د کلی نه څي
خیر دے که زۀ سرتوره اووتمه

Pukhto.Net

○

لالیه دا خوستا جبین پړقیږي
ما وې کۀ دا چرته آئین پړقیږي

زمونږ د خاورې ماشومان اوږی دي
د مور په غېږه کښې نیازبین پړقیږي

کۀ د جهان ښکلي راټول کړې سرې
پکښې به هاغه یو حسین پړقیږي

د پرخې نۀ ده د بل څۀ قطره ده
د ګل په مخ چې ماسپښین پړقیږي

شنه لوپټه په مقیشونو اوکړه
ستورې رانه په اسمان شین پړقیږي

ښکلي ته خان په هزار خایه ښکاري
چې شیش محل مې د یقین پړقیږي



Pukhto.Net

د غرۀ په سر باندې سپوږمۍ ښکاره شوه
د بـام د سـره مــه جبین پرقیږي

چـا وې چې دا ښکلـې رڼـا د څـۀ ده
شـاکـرؔ وې دا ئې لـونګین پړقیږي

# دروغ

جهـل پـریـږده ژړا پـریـږده چـې اودۀ شم
دامـې نـۀ پـریـږدی دا پـریـږده چـې اودۀ شم

هـغـه نـۀ راځـی ارمـانـه نیمـه شپـه شوه
مـالـه خـوب راځـی مـا پـریـږده چـې اودۀ شم

Pukhto.Net

○

د مینې د ننداره رقیبانو سره ژوند دے
د ترهنده هوسۍ د شرمخانو سره ژوند دے

دا ژوند مې دې قربان شي د یارانو د یارۍ نه
یارانو ژوند که ژوند دے د یارانو سره ژوند دے

په لویه لار مو لوټ کړی او په لویه لار مو پرېږدی
زمونږه د رهزنو رهبرانو سره ژوند دے

ما کوږې روږې اوکړلې ستا زلفې مې قابو کړې
خو ستا په کوم هنر ددې مارانو سره ژوند دے

چې څۀ مو کسب کړی دی هم هغه به رارسی
زمونږه بت پرستو د بتانو سره ژوند دے

که تۀ په خپل رخسار باندې خالونه ږدې که نۀ ږدې
د ګل خو هسې هم د بوراګانو سره ژوند دے

Pukhto.Net

زما د عقیدې او نظرئې جنګریز په سر دے
زما د محبت د دشمنانو سره ژوند دے

د چا د بې سخنه سخنورو سره ژوند دے
د چا د تنګ نظره ناقدانو سره ژوند دے

په نۀ خبره خاندی او په نۀ خبره ژاړی
شاکرؔه دا دې څۀ د ماشومانو سره ژوند دے

## کربلا

د دنیا نشې ته ګوره د عقبا نشې ته ګوره
د ستم نشې ته ګوره د وفا نشې ته ګوره

سر کوزی او سر لوړی به ترې پخپله پیدا کیږی
یو یزید دے بل حسینؓ دے کربلا نشې ته ګوره



Pukhto.Net

سپرلے مدام کوی د زړهٔ خبرې
ځکه زهٔ اورمه ددهٔ خبرې

د محبت د زړهٔ په کور کښې کیږی
د ښائستونو د کالهٔ خبرې

ټولې توبې ئې راله ماتې کړلې
کوی په سترګو کښې توبه! خبرې

زما د ټول عمر حاصل دغه دے
هاغه د شونډو په سر دوه خبرې

زمونږ د کلي د رواج خبر ئې ؟
په زړهٔ کښې کرکه او په خُله خبرې

د ورځې ته به وے ما نهٔ پیژنی
د شپې کیږی زما د زړهٔ خبرې

Pukhto.Net

زۀ دې د سترګو نه په زړۀ پوهېږم
رېباره پاتې دې کړې څۀ خبرې

ماته دې زړۀ لېو نے شوے ښکاری
شاکره وانۀ ورې ددۀ خبرې

## ارمان او جانان

د خزان سپېره باد و نه چې الوزی
خپل سپېره سپېره ارمان راته رایاد شی

چې سپرلے د خپل ښائست په انتها شی
نو د ګل پشان جانان راته رایاد شی

Pukhto.Net

کهٔ ځوک خپل ځان ته مسخّر تول کائنات غواړی
دا بــه د فــکــر او وجــود مــحــرّکــات غــواړی

مــا د اســمــان ستــوروتــه نــهٔ کــاتهٔ چې دا لا څهٔ دی
خو شـنـهٔ خـالـونـه مې مئين زړګے ميرات غواړی

د ژوند د دشتــې نــه ګــلــزار او لالــه زار جوړؤم
پــه مــا مــئيــنــه يــو نــظــر د الــتــفــات غــواړی

مـــا بــه پــه يــو ســر د دنيــا غــرېو تښتولے وو خو
دا پــه لــکــونــو غــورزېــدل لــکــونــه مــات غــواړی

د چــا پلؤ چې چــا پــه خــوب کښې هم ليدلے نهٔ وو
اوس هــغــه پيغلې پــه دې کلی کښې خيرات غواړی

ستــا پــه جبين زمــا پــه زړهٔ بــانــدې ئې ځائے مونډلے
شيــنــکی خــالــونــه دې اشــنــا نــور څهٔ ثبات غــواړی

زهٔ د مثــبــت فــکــر خــاونــد يــم د الــوت قــائل يــم
شــاکــرهٔ نــفــی زمــانــه زمــا د ذات غــواړی



Pukhto.Net

پـه وينو سور ارمان پـه اوښکو لوند ګريوان راوړے
مـا د جـانـان د چـم نـه څـۀ ښکلے سـامـان راوړے

اسـانـه نـۀ ده چـې بـه پـاڅـم د نظر پـلوشـو
ډېره پـه ګـرانـه مې د ګل غېږې لـه ځان راوړے

تاخـو خپـل حسـن تـه اسـمـان اوما تـه زمکـه وئيل
اوس دې پـه کـومـو سـتـرګـو زمکې لـه اسمان راوړے

مـا اورېدۀ چې يـو سـړی بل تـه پـۀ غوږ کښې اووې
دې لېـونـی پـه مـحـبـت بـانـدې ايـمـان راوړے

د ښـائستـونـو تـمـاشـې تـه ټول جهـان ولاړ دے
سپرلے پـه سترګـو کښې سپرلی جانان راوړے

خـدايـه چـې کـوم يـو غـم تـه کښېنم پاسم اوخاندمه
يـو مـې جـانـان راوړے بل رالـه دوران راوړے

پښتونه ته په خپله ګته تاوان څۀ پوهېږې
تا د تمول کلي نه خپل غولي له تاوان راوړے

شاکره تا د فن معراج ته رسول غواړمه
ځکه مې تاله درد راوړے دے هجران راوړے

## تضاد

چې زما تپوس ترې چرته کښې څوک وکړي
وائي خدائے خودې پرې ښکه اديره کړي

خو د خان سره په زړۀ کښې دا هم وائي
خدائے دې نۀ کړي خدائے دې نۀ کړي خدائے دې نۀ کړي

Pukhto.Net

ګلونه نن سبا خبرې کوي
ټولې زما او ستا خبرې کوي

د آئینې پشانې سترګې يې دي
ډېرې صفا صفا خبرې کوي

زۀ ئې د زلفو په تيارۀ کښې ورک کړم
او د رڼا رڼا خبرې کوي

مونږ د يو بل سترګوته نۀ شو کتے
خلق بلها خبرې کوي

ناشنا خوخېر دے نا اشنا دے له ما
زما اشنا ناشنا خبرې کوي

د کلي اوږوتم د نرخه اوخم
په دې کښې هم اشنا خبرې کوي

Pukhto.Net

زۀ يې په ذهن باندې داسې سور يم
پۀ خوب کښې هم زما خبرې کوي

شاکرؔ د کلي نه په دې اوباسي
وائي چې دے رښتيا خبرې کوي

## زما ارمان

يار مې د ګل پشانې نۀ دے ښکلے
يار مې د ټول بهار نه هم ښکلے دے

د خپل ارمان به درته څۀ اووايم
زما ارمان د يار نه هم ښکلے دے

Pukhto.Net

زړهٔ مې تودې تودې نعرې اوباسي
درد رانه ولې بې اسرې اوباسي

زهٔ خو هغهٔ ته پښتون نهٔ وایمه
څوک چې د کوره پښتنې اوباسي

د جانان زړهٔ د پلانکي خان کنډر دے
هر یو سړے ترې بې نیتې اوباسي

خدائے خبر بیا مې څهٔ ګناه کړې ده
خدائے خبر بیا ولې توبې اوباسي

غریبي دومره سړے نهٔ سپکوي
خو بې حسي ترې نه جامې اوباسي

باز د صیاد په ګوتو ور نهٔ راغے
اوس د چرګوړو نه بڼې اوباسي

Pukhto.Net

څوک مې چارګل څوک مې اوګی ماتوی
څوک مې د لاسو نه ګجرې اوباسی

شاکر د ژوند په معنیٰ نهٔ پوهېږی
زمونږ د کلی نه دې پښې اوباسی

## د جمال لیلة القدر

ماپسې د خپلې څوانۍ تولې شپې روڼ کړی
دائې په هېر زیار او په هېر صبر راحضور کړو

نن ئې پلوٗ واړوو د مخه په خندا شوه
نن ئې د جمال لیلة القدر راحضور کړو



Pukhto.Net

○

څه د سپین سپېځلی خیال په سبوری تېر شو
تول ژوندون مې د یو خال په سبوری تېر شو

د هجران د سرې غرمې د ریاضته
ماښیګر مې د وصال په سبوری تېر شو

په دې لاړه به اوس کال په کال راتله کړی
پسرلے دې د جمال په سبوری تېر شو

خپل ښائست دې د چا زړهٔ ته سبکته نهٔ کړو
دا عروج دې د زوال په سبوری تېر شو

تهٔ د بام په سر سپوږمۍ ولاړه اوسه
لیونے دې د دېوال په سبوری تېر شو

د خپل مخ د پلوشو رڼا ته وایه
چې زما ښکنے کال په سبوری تېر شو



Pukhto.Net

ستا د زلفو د لمبو نه چې راتېر شوم
نو هنر مې د کمال په سپوری تېر شو

ما د اور حمامې اغوستې دی سوزېږم
یاران وائی چې اقبال په سپوری تېر شو

# رشک

ما د جانان په ښار کښې شپه تېره کړه
ما په څهٔ بل خمار کښې شپه تېره کړه

زما د دې حالت لیدو د پاره
سپرلی په لویه لار کښې شپه تېره کړه

Pukhto.Net

زما په سترګو کښې خپل ځان ګوری
زما لالے زما ایمان ګوری

د لیونۍ خوا یخه شوې نهٔ ده
نورې تتبۍ مې په ګرېوان ګوری

مورې سبا له به څادر را اخلم
ماته په لاره هلکان ګوزی

زما یاری ئې یاری نه ګڼله
اوس په پېسو ځان له یاران ګوری

هغهٔ زما پشان غریب څهٔ کوی
هغهٔ د ځان پشانې خان ګوری

په هر قدم ئې راله زړهٔ چولے
په هر قدم راته جانان ګوری

Pukhto.Net

لمبه د خپل احساس په سرو اورونو کښې پراته دی
دا چاوې چې یاران په شنو خالونو کښې پراته دی

د مینې د شوخئ د بې وسئ پیکه رنګونه
خوارهٔ وارهٔ د ژوند په تصویرونو کښې پراته دی

چې څوک په تا مئین دی نود نمر غوندې ښکارهٔ دی
چې څوک په ځان مئین دی په ګوټونوکښې پراته دی

د چا ورته لاس نهٔ رسی خو خدائے خبر چې ولې
خاپونهٔ د سپوږمئ په رخسارونو کښې پراته دی

زمونږ بچی زمونږ د روایت نه خبر نهٔ شو
ناشنا ناشنا څیزونه موکورونو کښې پراته دی

زمونږه د حلقونو نه تراخهٔ کله تېرېږی
د ټول جهان خوارهٔ زمونږ په زړونو کښې پراته دی

Pukhto.Net

جانانه د سپرلي ګلونه څومره بختور دي
چې پاڼې پاڼې ستا په قدمونو کښې پراته دي

شاکره د ليتکو په رڼاګانو پسې ګرځو
نور نمر سپوږمۍ زمونږه په لاسونو کښې پراته دي

ستا په نصيب کښې نن تکور نشته
زړګيه سترګو کښې ئې اور نشته

خوبه پخپله که راتلے شې راشه
نن د جانان د بنګړو شور نشته

○

چې د چا ستر ګې سرې نهٔ کړي په ګلونو باندې
تندر دې پرېوزي په داسې بهارونو باندې

د اننګو خولې ئې اوس هغهٔ سېزل نهٔ کوي
ګرد مې پرېوتے دے د شونډو په پاڼو باندې

ستا د يادونو په صحرا کښې طوفانونو د ژوند
خلقو له خاورې ايرې باد کړې په سرونو باندې

چې په خندا ئې د بوډۍ د تال لړونه شلېږي
ما ځانګوی د خپلو زلفو په تالونو باندې

ستا د نامې ستا د کوڅې نه به منکر نهٔ شمه
کهٔ څوک مې تک وهي مېخونه په نوکونو باندې

چې جانان سپينه لو پټه په تور اوربل خوره کړي
تهٔ به وے واورې ورېدلې دی په غرونو باندې

د زمانې ستر ګې د وينو نه په دې ډکې دی
چې شاکرؔ ولې راروان دے په اورونو باندې



Pukhto.Net

هرڅهٔ دي پربښوده دنیا ته ناست يې
مړ به شي څهٔ توري بلا ته ناست يې

زړګيه تهٔ په پښتو نهٔ پوهېږې
چا ته دي کښېنولم چا ته ناست يې

یو ګل زما سترګو ته نهٔ شي کتے
سپرليه تهٔ چې زما خوا ته ناست يې

نور دي څهٔ کار او کسب شتهٔ دے کهٔ نهٔ
دغه د سرو شونډو خندا ته ناست يې

زړهٔ راته اوؤي د رنجو په کان کښې
په دې بتياره کښې تهٔ رڼا ته ناست يې؟

اخر دا سوړ محفل به څوک تودوي
شاکره تهٔ چې دومره شا ته ناست يې



Pukhto-Net

د فساد او د نفرت نه مې زړهٔ تور دے
محبت زما په ذهن باندې سور دے

چې انسان دے نو زما د زړګي سر دے
غنم رنګے دے کهٔ سپین دے او کهٔ تور دے

